محسن

د قرآني زده کړې او پوهنې لړۍ

۹۹

# محسن تفسير

په پښتو

# ۹۹ ـ د «زلزال» سورت

ژباړه او څېړنه :

احمد حسين «عنايت»

د زلزال سورت تشريح
ژباړه او څېړنه:
احمد حسين «عنايت»

بسم الله الرحمن الرحيم
د لوراند او لورين الله په نامه
سُوْرَةُالزِّلْزِال

# د زلزال سورت (۹۹)

د «زلزال» سورت چې په عامه توګه د «إِذَا زُلْزِلَتِ» سورت په نوم مشهور او په دې نوم لوستل کېږي. دا سورت د لومړنيو مکي لنډو سورتونو له ډلې څخه دی چې د قيامت پورې اړوند موضوع په مختصره او برېښنده توګه څرګندوي، او د آهنګ ښکلا او پر نفسونو يې د اغېز اعجاز له ورايه برېښي.

دا سورت (۸) آيتونه يوه رکوع لري په تلاوت کې (۹۹) سورت دی. په کابلي تفسير او نورو ډېريو تفسيرونو کې ليکل شوي چې دا سورت مدني دی په نزول کې (۹۳) او د «النساء» له سورت څخه وروسته نازل شوی دی.

سره ددې چې ددې سورت د نزول په هکله دا مشهوره ده چې دا سورت مدني دی او په ډېريو تفسيرونو او ژباړو کې په همدې ډول ليکل کېږي خو ددې سورت د مکي او مدني والي په اړه د مخکينيو تر منځ د ليد توپير شتون لري. د سورت د مضمون لنډون او د آيتونو ترکيب او د مطرح کولو طريقه يې په ښکاره توګه څرګندوي چې دا سورت بايد مکي وي. مسعود (رض)، عطاء، جابر او مجاهد وايي چې دا سورت مکي دی او د ابن عباس (رض) يو قول هم پر همدې ټينګار لري ـ ددې پر خلاف قتاده او مقاتل وايي چې دا مدني دی او همدا راز د ابن عباس (رض) بل قول ددې سورت پر مدني والي ټينګار کوي.

ددې سورت پر مدني والي د حضرت ابوسعيد خدري (رض) د يو روايت پر بنسټ استدلال کېږي چې ابن ابی حاتم ترې روايت کړی دی او هغه دا چې حضرت ابوسعيد خدري وايي چې کله دا آيتونه [فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ . وَ مَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ.] نازل شول، نو ما د حضرت رسول اکرم په حضور کې عرض وکړ:
«يا رسول الله د خپلو عملونو ليدونکی به يم» حضرت رسول ځواب راکړ «هو». ما عرض وکړ «دا غټې غټې ګناه ګانې؟» ځواب يې راکړ «هو» ما بيا عرض وکړ «او دا وړې وړې ګناه ګانې هم؟» حضرت رسول وفرمايل هو. په دې خبره ما وويل «چې بيا خو زما کار

خراب دی» حضرت رسول وفرمايل: «ای ابو سعيده خوښ اوسه، ځکه چې هره نېکي به د ځان په څېر د لسو نېکيو سره برابره وي» ـ له دې حديثه يې ددې سورت په مدني والي استدلال کړی ځکه ابوسعيد خدري د مدينې اوسېدونکی وو او د احد تر غزوې وروسته د بلاغت سن ته ورسېد، نو پر دې بنا که دا سورت د هغه په موجوديت کې نازل شوی وي لکه څنګه چې د هغه له بيانه برېښي نو بايد مدني اوسي، خو دا استدلال نيمګړی ښکارې او په قطعي توګه دا ددې ثبوت نه دی چې دا سورت دې مدني اوسي، کېدی شي ابوسعيد خدري د بلاغت او پوهې پړاو ته د رسېدو پر مهال دا سورت له رسول الله اورېدلی وي او هغه پوښتني يې کړي وي چې مخکې ووېل شوې او دا واقعه يې په دې ډول بيان کړې وي. خو له دې بيانه پرته هر څوک چې قرآن لولي او د قرآن له متونو سره لږ شانته روږدی وي هرومرو دا محسوسوي چې دا سورت مکي دی او په مکې سورتونو کې هم د لومړنيو نازل شوو سورتو له ډلې دی چې د سورت د مضمون لنډوالی او په مختصره په زړه پورې خوږه ژبه خلکو ته د اسلام بنسټيزې عقيدې بيانوي.

**له مخکيني سورت سره اړيکه:**

د تلاوت په لړ کې له دې څخه مخکينی سورت « بيّنه » دی ددې سورت ورته والی له مخکيني سورت سره د موضوع له کبله ډېر ښکاره دی.

داسې برېښي چې د «خير او شر» موضوع د دوو سورتونو «بيّنه» او «زلزال» تر منځ تر ټولو ډېره څرګنده مشترکه وجهه وي. د بيّنه په سورت کې انسانان په دوو ډلو «شرالبريه» او «خيرالبريه» ويشي او د هغوی جزا د الله په نزد څرګندوي.

«إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ وَالْمُشْرِكِينَ فِي نَارِ جَهَنَّمَ خَالِدِينَ فِيهَا أُولَئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ، إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ، جَزَاؤُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنَّاتُ عَدْنٍ...»

د «زلزال» په سورت کې هم خير او شر د عمل له اړخه، مطرح کوي او ټينګار کوي په کومه ورځ چې ځمکه خپل خبرونه ښکاره کوي [يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا] هر چا چې د ذرې په کچه بدي يا نېکي کړې وي هغه ويني:

[فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ، وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ]

دا هم د يادولو وړ ده چې دا سورت د «قارعه» او «عاديات» له سورتونو سره چې وروسته به انشاءالله تشريح شي نژدې اړيکه لري.

## د سورت د مضمونونو محور او محتوا:

د زلزال سورت د ځمکې د سترې او نغاړونکې لړزې څخه چې ګواکې د ځمکې د طبيعي عمر په پای کې د قيامت په درشل کې پېښيږي، پرده اوچتوي او د هغې پايلې چې پراخې اورغورځونې او د درنو توکو خارجېدل ورسره مل دي، شرح کوي. ـ کېدای شي له «اثقال» څخه مطلب همدا د انسان عملونه وي چې د هغوی د نېکيو او بديو پر حساب مجازي وزن او دروندوالی مومي. لکه څنګه چې په همدې سورت او نورو سورتونو کې د ثقل نسبت ورته ورکول شوی دی [فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ] دا هم کېدی شي چې هر دواړو حالتونو ته يې پاملرنه وي، هم د ځمکې د دننيو توکو او موادو وزن او هم د اعمالو وزن (والله اعلم) ـ

هاغه څه چې د ډار شوي او هک پک انسان له ليد ځايه چې د دا ډول انقلاب او بدلون لېدونکی دی مطرح دي، ددې تغير او بلشان کېدلو ماهيت دی [وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا] له هاغه ګوټ او اړخه چې هغه پورې اړه لري توضيح ورکول کيږي: [يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا].

په هاغې ورځ کې ځمکه خپل «اخبار» په داسې يو کيفيت چې اوس موږ ته روښانه نه دی څرګندوي، او يا د هغې د تکويني او مادي طبيعت په مختلفو پړاوونو پورې اړوند اخبار او يا د هاغو موجوداتو او انسانانو پورې اړوند اخبار چې د هغې پر مخ يې ژوند وکړ، بيانوي او څرګندوي چې کوم مهال يې چرته څه کړي دي.

څرنګه چې انسان له خاورې پنځول شوی دی او خاورې ته ببرته ستنيږي او له خاورې بيا ځلې را اوچتيږي «مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ وَفِيهَا نُعِيدُكُمْ وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً أُخْرَى» [طه ۵۵(۲۰:۵۵)] له هماغې [خاورې چې راز راز ګياه ګانې زرغونوي، تاسو] مو وپنځولئ او هماغې ته مو [بيا] ببرته ستنوو او بيا ځلې به مو [په قيامت کې] له هماغې [خاورې] ببرته راوباسو.

په واقعيت کې په هغه پورې اړوند اخبار د ځمکې په ساتونکې زړه کې شته او د ځمکې د خپل اخبار حديث کول، په واقعيت کې د انسانانو د اخبار حديث کول هم دي، او د انسان اخبار هاغه غبرګون دی چې په الهي ابتلا او ازموينه کې يې له ځانه څرګندوي.

«وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنْكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ» [محمد ۳۱(۴۷:۳۱)]

«او په تحقيق موږ به تاسو [ټول] د ازميښت په ننګوونه کې واچوو چې ستاسو مجاهدين او صابرين [زغمونکې] وپېژنو او ستاسو [اړوند] خبرونه [=د آزموينې پايله] ښکاره کړو».

«...قُلْ لَا تَعْتَذِرُوا لَنْ نُؤْمِنَ لَكُمْ قَدْ نَبَّأَنَا اللَّهُ مِنْ أَخْبَارِكُمْ..» [توبه ۹۴(۹:۹۴)].

«..ووايه: [له ګناه بتر] عذر مه کوئ چې موږ به هيڅکله پر تاسو [او ستاسو پر عذر] باور ونکړو؛ الله تعالی موږه ستاسو له خبرونو [= ستاسو له شخصيت او کړنو] خبر کړي يو ...»

په دې ترتیب له ربوبي فرمان سره سم [بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا] په هغې ورځ کې ځمکه، هر هاغه څه چې پرې په میلیاردونو کلونو کې تېر شوي وي، ببا ځلې وايي او بیانوي. دا ورځ د پټو رازونو او سُرونو [یوم تبلی السرائر] د ښکاره کېدو ورځ ده چې د خدای تعالی پر وړاندې ټول لواړېږي او څرګندېږي او هیڅ څیز له هغوی الله ته پټ نه پاتېږي. «يَوْمَ هُمْ بَارِزُونَ لَا يَخْفَى عَلَى اللَّهِ مِنْهُمْ شَيْءٌ ...» [مؤمن۱۶ (۴۰:۱۶)] «هاغه ورځ چې د انسانانو [باطن] ښکاره کیږي [په داسې ډول چې] له الله څخه به ددوی هیڅ څیز پټ نه وي...»».

په نهایت کې د انسان دا پړاو پای ته رسیږي او د انساني نوعې ښکارندې او پدیدې اجل او ټاکلی مهال تحقق مومي چې د بل پړاو لور ته سوق کیږي. په دې ورځ کې انسانان له هاغه حالت او موقعیته چې لري یې، په ځانځاني ګله وډه او تیته پرکه بڼه حرکت کوي چې عملونه یې ورته وروښودل شي [يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا...]. دلته د «یصدر» فعل [يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا] کارول شوی دی چې له خروج سره توپیر لري؛ «صدور»، له یوې نقطې څخه بلې نقطې ته انتقال او حرکت ته وايي چې ګواکې لکه د توکو د صادراتو په څېر چې د تولیداتو د زیاتېدا پر بنسټ بڼه نیسي، نو دا یوه پړاویزه اشباع او برخمنتیا ده.
لکه د پسونو د څړوبولو لپاره د شپنو د حرکت په څېر چې رمې ته د اوبو د زېرمې پر لور حرکت ورکوي «...قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ...» «...ویې ویل: موږ تر هاغې چې شپانه [خپل پسونه څړوب نه کړي او خپلو کوروونو ته] ستانه نه شي، [خپلو پسونو ته] اوبه نه ورکوو...» [القصص ۲۳ (۲۸:۲۳)]
لکه څنګه چې د انسانانو هڅې او کړنې تیتې پرکې، ګډې وډې او مختلفو انګېزو ته خپرې او ویشلې دي او هر څوک د خپلې وړتیا په تناسب هڅه کوي «إِنَّ سَعْيَكُمْ لَشَتَّى» [لیل۴ (۹۲:۴)] د هغوی حرکت هم د هغوی د خپلو عملونو د ننداره لپاره په متحده او ټولنیزه توګه بڼه نه نیسي، بلکې په ځانځانې او متشتته ګله وډه بڼه، د هغوی د عملونو د څرنګوالي پر حساب بڼه نیسي [يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا...].

داسې بریښې چې دا هماغه صحنې اوسې چې د معارج په سورت کې له ګوروونو څخه په بېړه ناک خروج او ګړندي حرکت سره د یوه نامعلومه مقصد او موخې پر لور توضیح شوی دی، سره ددې چې هلته د حرکتونو پراګندګۍ او ښېندنې او د لورو او جهتونو توپیر ته کومه اشاره نه ده شوې: «يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ»[معارج ۴۳ (۷۰:۴۳)]. په هغه ورځ به چې په بېړه او ګړندۍ توګه له ګوروونو راووځي، ګواکې د یوې ټاکلې موخې پر لور بېړه کوي. نو د «یصدر» له فعل څخه داسې بریښي چې د انسانانو حرکت د هغوی په خپل واک کې

دی. خو د عملونو لېدل او ننداره يې په خپل واک کې نه ده. ځې ددې لپاره چې هغوی ته به ورروښودل شي، د «يُرَوْا» له مجهول فعل څخه داسې برېښي چې دا ډول نقش د يو لړ مرموزو ځواکونو او لاملونو پر غاړه دی. دا ښايي هماغه ارزښتمن ليکونکي [كراماً كاتبين] اوسي. چې موږ هر څه چې کوو هغوی يې ليکي او پرې پوهيږي (يعلمون ما تفعلون).

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيم
إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا ﴿۱﴾ وَ أَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا ﴿۲﴾ وَ قَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا ﴿۳﴾ يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا ﴿۴﴾ بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا ﴿۵﴾ يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُ ﴿۶﴾ فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ ﴿۷﴾ وَ مَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ ﴿۸﴾

زلزل (مجهول ماضي) = ځمکه په خوځېدو شوه ـ زَلْزَالْ = لړزش، غورځنګ، خوځول ـ زُلْزِلَت = ولړزول شي، وخوځول شي ـ أَرْضُ = ځمکه [د ځمکې کره] ـ زِلْزَالَهَا = په خپلې سختې لړزې سره يې ـ أَخْرَجَتِ = بيرون واچوي، راوباسي [بهر ته راوباسي] ـ أَثْقَالَهَا = درانه توکي يې، درانه بارونه يې ـ مَالَهَا = پر دې څه کيږي؟، پر دې [ځمکه] څه شوي دي؟ ـ يَوْمَئِذ =پر هغې ورځ، هغه مهال ـ تُحَدِّثُ = بيان به کړي، وغږوي، بيا وينه به وکړي ـ أَخْبَارَهَا = خپل خبرونه، خپل حالات ـ بِأَنَّ = په دې خاطر، له دې لامله ـ أَوْحَى لَهَا = هغه ته يې حکم وکړ، ورته يې وحی وکړه، دهغه په ضمير کې يې الهام وکړ، په پټه يې ورسره خبرې وکړې، ـ يَصْدُرُ [مضارع مصدر] = [له کومه ځايه] راستنيږي، را وځي، را بيرون کيږي،[له خپل مېشت ځايه] بېرته راځي، [يو لور ته] ځي ـ النَّاسُ = خلک ـ اشتات = د شتيت جمع او اشتات: خپاره، شيندل شوي ـ أَشْتَاتًا= خپاره واره، ګډوډ، ځانله ځانله، بېل بېل، مختلف، ډول ډول ـ لِيُرَوْا = چې ورښکاره کړل شي دوی ته، چې ورروښودل شي دوی ته ـ مِثْقَالَ = [د اسم مصدر په معنا]: وزن، دروندوالی. [د اسم آلت په معنا]: هاغه څه چې د هغه په توسه وزن سنجول کيږي. په کچه، هموزن، برابر، هومره ـ ذَرَّةٍ = يوه ذره، تر ټولو کوچنۍ کچه ـ خَيْرًا= نيکي ـ شَرًّا = بدي.

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا﴿۱﴾

هغه مهال چې ځمکه له خپلې[سترې]لړزې سره[د قيامت په درشل کې]ولړزول شي.(۱)

## وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا﴿۲﴾

او خپل درانه بارونه [=دننني درانه توکي] دباندې واچوي.(۲)

| إِذَا | زُلْزِلَت | الْأَرْض | زِلْزَالَهَا | وَأَخْرَجَت | الْأَرْض | أَثْقَالَهَا |
|---|---|---|---|---|---|---|
| کله چې | ولړزول شي | ځمکه | له خپلې [سختی]لړزې سره | او د باندې واچوي | ځمکه | خپل درانه بارونه |

بسم الله الرحمن الرحیم. إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا۔ إِذَا هغه مهال چې زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا. ځمکه په خپلې واقعي او نهايي لړزه ولړزېږي؛ یا هاغه مهال چې ځمکه په لړزېدو راشي او ولړزول شي. «اِذَا...» د قیامت په درشل کې سختې او شدېدې زلزلې ته اشاره ده.

زلزله یعنې په زور زور حرکت ته وايي الزلل؛ مضطربوالي ته وايي او د تورو تکرار د جټکو او خوځښت پر تکرار دلالت کوي. زُلْزِلَ مجهول فعل دی؛ یعنې له ځمکې څخه خارج او دباندنیو ځواکونو او لاملونو ته اشاره لري، دا ځواک کېدای شي لمر پورې اړوند وي یا لمریز نظام پورې یا زموږ کهکشان پورې اړوند ځواک وي، یا هم کېدای شي په دې کهکشان کې کوم ځانګړی ځواک وي. په هر حال خارجي عاملونه او لاملونه، به ځمکه په ډېره سختۍ ولړزوي په هاغه لړزې چې هغې ته ځانګړې ده.

زِلْزَالَهَا... د تأکید، ټینګار او د شدت او قوت د څرګندولو لپاره دی، یعنې هاغه غورځنګ او خوځښت چې د ځمکې په طبیعت او ماهیت پورې اړوند دی. یعنې دا ډول یو ټکان، غورځنګ او لړزېدنه چې له دغو زلزلو او لړزېدو سره چې خلکو په دنیا کې په عام حالت کې لیدلې دي، هیڅ ورته والی نلري. ځکه د هاغې زلزلې او دغو زلزلو تر منځ [چې انسانان ورسره په دنیا کې په عادي حالت کې آشنا دي] ژور توپیر شتون لري: هغه دا چې کومې زلزلې چې په عام حالت کې په ځمکه کې رامنځته کېږي جزئي او محدودې دي یعنې مختصره شعاع لري د بېلګې په توګه شل کیلومتره په شلوکیلومترو کې، یا تر دې زیات: سل کیلومتره په سلو کیلو مترو، یا که فرض کړو له دې هم ډېر وي، پنځه سوه کیلو متره په پنځه سوه کیلو مترو کې، چې البته تر اوسه په دنیا کې سابقه نلري. چون د ځمکې دننه د یو لړ ځانګړو بهیرونو پورې اړه لري چې د ځمکې په یوې محدودې برخې کې رامنځته کېږي او بیا د هاغو توکو په توګه چې غواړي توی شي او یا د ځمکې له دننه راوځي او یا دننه له یو ځایه بل ځای ته حرکت وکړي د ځمکې د یوې برخې د لړزېدو او ټکان لامل کېږي په داسې ډول چې کوم خلک چې په هغې برخه کې مېشت نه دي اصلاً نه خبرېږي؛ یا دا چې زلزله یوه سیمه ګډه وډه او ویجاړه کړي او ځمکه یو ښار یا لویه سیمه په خپلې ګېډه کې ننباسي، خو سل کیلومتره اخوا خلک هډو متوجه کېږي نه، چې کومه زلزله هم شوې ده.

خو دا زلزله، له کومې چې قرآن یادونه کوي د ځمکې په یوې ټاکلې نقطې پورې اړه نه لري بلکې ټوله ځمکه رانغاړي. نه یوازې ځمکه بلکې ښایي ټوله لمریزه منظومه، یا ښایي ټول

کهکشان او هر څه چې په عالم کې دي؛ يعنې د جهان او طبيعت لپاره يو عمومي ټکان يوه ستره جټکه ده. او دا ټکان او جټکه چې په ټولو توکو کې د هر يو په ذات او دننه کې د يو تحول او اووښتون له لامله لکه د پخې شوې مېوې په څېر رامنځته کېږي او بله وضعه او بڼه مومي. چې په نتيجه کې د ځمکې يا د لمريز نظام تعادل چې د جاذبې له لامله برقرار دی له منځه ځي.

وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا. اثقال، د ثقل جمع ده چې بار او پېتي ته وايي. نو کوم مهال چې دا لړزه او جټکه رامنځته شي، ځمکه به خپل اثقال [درانه توکي] خارج کړي او دا «اثقال»، يا د ځمکې دننني درانه او ويلي توکي د انسانو په شمول دي، او يا د انسانانو د کړنو او عملونو دروندوالی دی، او هم هر دواړه کولی شو اټکل کړو.

موږ پوهېږو چې د ځمکې د پوستې پېړوالی د هغې د حجم په تناسب ډېر لږ او نری دی که د ځمکې د حجم او د هغې د پوټکي نسبت د منې له حجم او پوټکي سره پرتله کړو، مومو چې د ځمکې پوسته د ځمکې د حجم پر نسبت د منې له پوټکي نری ده. اوس د منې پوټکی په پام کې ونيسئ چې څومره نازک دی، نو د ځمکې پوټکی نسبت د ځمکې ټول حجم ته په همدې نازکۍ او نري والي دی. نو پر دې بنا، که دا پوسته وچوي يا سورۍ شي، طبيعي ده چې دننني ويلي مواد او توکي به بهر ته توی شي. خو له بل لورې هم په قرآن کې راغلي دي چې د انسانانو د عملونو اندازه اخېستنه به هم د «ثقل» [دروندوالي] پر بنسټ وشي: «فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ.» چې په همدې سورت کې دی. وايي که د يوې ذرې په کچه او دروندوالي مو نيکي يا بدي کړې وي هغه به ووينئ. نو د ځمکې په اثقالو کې د انسانانو د کړنو دروندوالی هم شاملېدلی شي.

په قرآن کې ښايي کابو لسو آيتونو د انسان کړنې او اعمال د هغه هم ثِقل [هم انډول] ګڼلي دي: فَمَن ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ يعنې د هر چا د عمل تله او ميزان چې «درونډ» وي [ثَقُلَتْ]، هغه وده موندی او بريالی دی. نو پر دې بنا کېدی شي د آيت مفهوم دا وي چې نه يوازې هغه څه چې د ځمکې دننه دي، متين يا ويلي اوبړن توکي بيرون ته اچول کيږي، بلکې پر دې سربېره د انسانانو کړنې او عملونه به هم له پردې بهر شي، څرګند او ښکاره به شي. په هر حال، داپېښې به په داسې ډول او بڼه رامنځته شي چې د انسانانو د کړنو او عملونو پېژندنه، پوهه او درک به هغوی ته شوني کړي.

د انسانانو کړنې د ثقل او وزن په توګه په لاندېني آيت کې هم په څرګنده توګه بريښنده دي: «وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ وَلَيُسْأَلُنَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَمَّا كَانُوا يَفْتَرُونَ» او [نه يوازې دا چې دا راز ځواک نه لري، بلکې] هرومرو به د خپلو [ګناهونو] دروند پيتي او نور پيتي پر خپلو پيتو سربېره پر اوږو لېږدوي، او په رښتيا د قيامت په ورځ به له هاغو [باطلو ادعاګانو] پوښتنه ترې وشي چې په درواغو به يې بوهل [عنکبوت۱۳ (۲۹:۱۳)].

او همدا رنګه په لاندېني آيت کې ثقل د بار او وزن په توګه مطرح شوی دی: «وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ» او [له دې سره سره] ستاسو بارونه داسې سيمو ته لېږدوي چې تاسو پرته له کړاو ګاللو [= د ځنکدن په څېر]، نه شو کولی هلته ورسېږئ په رښتيا چې ستاسو پالونکی ښتن پر تاسو خواخوږی مهربان دی [نحل۷ (۱۶:۷)].

د خوځښت او بېلېدلو طبيعي پديده د يو مثال په ترڅ کې توضيح کوو: د مثال په توګه د ونې مېوه چې د هغې وجودي موخه او نهائي حاصل دی کله چې په بشپړه توګه ورسېږي، او پخه شي، درنېږي او له څانګې او ښاخ څخه د هغې د نښلوونکي ډکي او شاتينۍ اړيکي له سستېدو سره، را پرېوځي او له ونې رابېلېږي (انشقاق)، د ځېنو ونو مېوې، د رسېدو پر مهال له دننيو لړزېدو سره خپل پوټکی څيري کوي او دانې د خپل نسل د غځېدو لپاره لېږبو واټونو ته توغوي او ښندي يا هم (لکه د انار په څېر) په څرګنده توګه د الوتونکو او انسانانو په تصرف کې ورکول کېږي. اصولاً د مېوې رسېدل او پخېدل د ونې د وجودې موخې «تحقق موندل» او د هغې د ځواکونو او بالقوه استعدادونو او وړتياو فعليت ته رسېدل دي چې په دې پړاو کې له مخکيني نظام څخه په بېلېدو او په دننې کيفي تحول مجبور دي. خدای تعالی په قرآن کريم کې د مؤمنينو پاملرنه د انګور، زيتون او انار د پخېدو او د مېوو د رسېدو مختلفو پړاوونو ته، د مېوو تر بشپړې رسېدو پورې را اړوي، چې مخ پر ودې يوه لړۍ څرګندوي: «وَهُوَ الَّذِي أَنْزَلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَخْرَجْنَا بِهِ نَبَاتَ كُلِّ شَيْءٍ فَأَخْرَجْنَا مِنْهُ خَضِرًا نُخْرِجُ مِنْهُ حَبًّا مُتَرَاكِبًا وَمِنَ النَّخْلِ مِنْ طَلْعِهَا قِنْوَانٌ دَانِيَةٌ وَجَنَّاتٍ مِنْ أَعْنَابٍ وَالزَّيْتُونَ وَالرُّمَّانَ مُشْتَبِهًا وَغَيْرَ مُتَشَابِهٍ انْظُرُوا إِلَى ثَمَرِهِ إِذَا أَثْمَرَ وَيَنْعِهِ إِنَّ فِي ذَلِكُمْ لَآيَاتٍ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ» [انعام۹۹ (۶:۹۹)]. او هغه، هاغه ذات دی چې له آسمانه يې [ژوند ښونکې] اوبه نازلې کړې، نو [د باران په برکت] هر ډول زرغونېدونکي توکي مو [د خاورو

له زړه] را وايستل چې له هغو [بوټو] يو پر بل ايښي داني [لکه د غنمو د وربو... په څېر] راوباسو او [هم] لکه د کجوري د ونې په څېر چې له غوټيو يې تېل شوي وربي ځوړند دي او د انګورو، زيتون او انار بڼونه يو د بل په څېر او بېلابېل [= د رنګ او خوند له ليده مو راز راز؛ پنځولي]. د دغو ونو مېوو ته کوم مهال چې بار نيسي او [هم] د هغوی رسېدلو ته [= د خوړلني پرمهال] وګورئ په تحقيق په دې [د ګياه ګانو د عالم په فيزيکي او کيمياوي فعل او انفعالاتو ] کې ډېرې نښې دي د هاغو خلکو لپاره چې [د حکيم او عليم پنځګر پر شتون] ايمان ولري.

د بې نهايت سترو توکو په عالم کې هم دا حالت صدق کوي، کهکشانونه هم، داسې شجرې [ونې] دي چې منظومې يې وربي، او ستورې د هغوی مېوې تشکيلوي. هر يو ستورى د مېوې په څېر ډول ډول پړاوونه تېروي تر هاغې چې پوخوالي، انشقاق او چاودون ته نژدې شي. څمکه هم چې په پيل کې د کهکشانونو تر منځ د غبار په څېر د ذراتو له کوټه کېدلو او تراکمه زيږېدلې ده، له څو ميلياردو کلونو وروسته چې خپل بوډاتوب او مرګ ته ورسيږي، لکه د رسېدلې او درنې شوې مېوې په څېر چې له نابېره لړزې سره خپل باندينى پوټکى خيرې کوي او خپلې درنې شوې داني بيرون ته غورځوي، په نغاړونکي زلزلې دوځاريږي او خپل اثقال خارجوي [إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا].

دا مطلب د انشقاق له سورته په ګټه اخيستنه ښه برېښنده تشريح کولی شو. مخکې مو د «انشقاق» سورت په پيل کې ولوستل؛ چې د اسمان څيرل او غوڅېدل [د کهکشاني فضا له پاټې نورو برخو څخه زموږ د کهکشاني فضا پرې کېدل او بېلېدل، له خپلو ټولو ستورو سره] د ځمکې له انبساط او انفجار او د هغه د دننني موادو له تخليې سره مل او هم مهالې وي: «إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ، وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ، وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ، وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ، وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ.» [انشقاق ۱ (۸۴:۱)تر۵].

هاغه مهال چې آسمان [= د ځمکې جوّ، لمريزه منظومه يا تر هغې پورته] څيري شي [او پر هغه پورې له اړوند جاذبه اې نظامه بېل شي]، او خپل پالونکي څښتن ته [او د عالم چلوونکي ته، د وروستي تحول لپاره] د چمتووالي څرګندونه او اطاعت وکړي او تحقق ومومي [= خپل وجودي کمال ته يې ورسيږي]، هاغه مهال چې ځمکه راښکل [يا وغځول] شي او هاغه څه په کې دي د باندې وغورځوي او تشه شي، او خپل پالونکي

ښښتن ته د چمتووالي څرګندونه او اطاعت وکړي او تحقّق وومومي [=هاغه پړاو ته چې ورته مقدّر وو، ورسيږي ].

ګواکې د ځمکې د عمر پايان او نهايي سرليک د لمريزې منظومې له نهايي عمر او سرليک سره يا د کهکشان له يوې ځانګې سره، يا د خپلوانو منظومو له ټولګې او په ټوليزه توګه د شيدولارې له کهکشان سره تړون او پيوند خوړلی وي، په داسې ډول چې کله چې د معروف او معهود آسمان [د السماء الف او لام ته اشاره] په متعادل نظام کې انفطار او انشقاق حاصل شي [إِذَا السَّمَاءُ انْشَقَّتْ] او د ستورو له ټولګې څخه يوه ځانګه يا ځانګې د مټ په بڼه د کهکشان له اصلي تنې څخه بېلېږي ددې ښاخ يا ځانګې تشکيلوونکي ستوري له بدلون او ګډوډۍ سره دوڅارېږي، او ځمکه هم چې د لمريز نظام له اجرامو څخه يوه سړه او کوچنۍ کتله ده، له هاغو سترو تحولاتو څخه په پليونۍ چې په ټوله منظومه يا له کهکشانه په يوې غونچې کې يا خپله کهکشان کې پېښېږي او له يو بله د غونچو د پرې کېدو، بېلتون او انشقاق لامل کيږي، منبسطه کيږي او خپل درانه توکي بيرون ته غورځوي [وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ، وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ].

چې د دغې عمل فيزيکي لامل هم روښانه دی. کله چې لمر لېرې او واټن يې زيات شي او پر ځمکه وارد شوی د جاذبې ځواک يې لږ شي، د دننيو قشرونو سخت ګړندي ځغلند ځواکونه چې د هغې له هسته اي فعل او انفعالاتو څخه سرچينه نيسي، خارجي پوسته تر فشار لاندې نيسي منبسطه او منفجره کوي يې.

په دې حالت کې ويلي شوي درانه توکي د چاودون له سوريو بيرون غورځوي او له دننني فشار څخه له آزادېدو سره، د ځمکې لوښی تشوي [وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ، وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ]. د ځمکې غځېدل [وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ] بايد همدا د ځمکې د خارجي پوستې انبساط او د هغه د قطر زياتوالی وي چې د مرکزي جاذبې له لامله يو منحني حالت [نه مستقيم خط] لري.

د پاملرنې وړ ژوره خبره، چې د آسمان د انشقاق او غځېدلو په ذکر کې تر سترګو کيږي، هاغه ټينګار دی چې دوه ځلې د [وَأَذِنَتْ لِرَبِّهَا وَحُقَّتْ] له جملې سره تکرار شوی دی. پالونکي ښښتن ته د ځمکې او آسمان اذن ورکول، د حال په ژبه د تغير او ربوبي تصرف لپاره د چمتووالي څرګندونه او اعلام دی.

لکه څنګه چې رسېدلې مېوه د مصرف کوونکي د برخمن کېدلو لپاره د حال په ژبه خپل چمتووالی اعلامويي او د تصرف اذن ورکوي. د «حقت» فعل هم چې په مجهوله صیغه کارول شوی دی، د مختلفو ځواکونو مشارکت او ګډون څرګندوي چې ټول متفقاً په يو لاس تر نظر لاندې پړاو ته د آسمان او ځمکې په پخېدلو او رسېدلو [حقت] کې اغېزمن دي. لکه څنګه چې خاوره او لمر او اوبه او هوا... د مېوې په پخولو او په ثمر رسولو او تحقق موندلو کې اغېزمن دي. نه يوازې ځمکه، بلکې هره ښکارنده او پدیده د هغې د وجودي هدف او موخې د تحقق پر مهال، لکه د درونډ شوي نوزېږي په څېر چې له درد او فشار سره خپله ساتونکي پوسته څیروي او د مور له رحمه راووځي، له خپل چاپېرياله چې د مور د رحم نقش لري خارجيږي. ددې لپاره چې په بل چاپېريال او نورو شرايطو کې چې له نوو ځمکو، استعدادونو او وړتياو له پیدايښت سره متناسب دي وده وکړي (لکه مېوه چې د ژوو بدن ته جذبيږي).

انسان هم لکه د نورو موجوداتو په څېر، خو نسبتاً بشپړتر، کله چې د خپلو استعدادونو، وړتياو او بالقوه ځواکونو د فعليت پای او انتها ته ورسيږي، د دنيا پنجره پرې تنګيږي او اوچت الوتاند روح يې پراخه اوچت تره فضا غواړي چې په هغې کې ځغل او الوت وکړي. دا فضا هماغه آخرت دی چې پراخوالی يې ټول آسمانونه او ځمکه ده.

«وَسَارِعُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا السَّمَاوَاتُ وَالْأَرْضُ أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ.» [آلعمران ۱۳۳(۳:۱۳۳)]. «د خپل پالونکي ښښتن له لورې د ښښنې او د آسمانونو او ځمکې په پراخوالې د هاغه جنت پر لور چې د متقيانو، پاملرونکو او پرهېزګارانو لپاره چمتو شوی، بيړه وکړئ».

« سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ...» [الحديد۲۱ (۵۷:۲۱)]. «د خپل پالونکي ښښتن له لورې د ښښنې او د آسمانونو او ځمکې په پراخوالې د هاغه جنت پر لور بيړه وکړئ، مسابقه وکړئ، چې د هغه چا لپاره چې پر خپل پالونکي ښښتن او د هغه پر استازي يې ايمان راوړی چمتو شوی دی...».

هاغه میوه چې په سمه سالمه او طبيعي توګه رسېدلې وي، تر ګټې او برخمنتيا لاندې راځي او سلولونه يې د عاليتر موجود په تن او بدن کې خپلې ودې او کمال ته ادامه ورکوي، خو چينجنې، نارسېدلې او ورستې مېوې په ډېران يا کومې کندې کې اچوي يا د

سرې په توګه ترې ګټه اخلي چې بل ځل د بلې ونې په تنه او اندام کې له سره تازه تجربه پيل کړي. دا ډول د انسانانو سرليک دی چې په جنت يا جهنم کې استوګن کيږي.

د «زلزال» پر سورت سربيره په نورو سورتونو کې هم د ځمکې له سرليکه او د هغې له سترې زلزلې څخه يادونه شوې ده چې دلته يې څو آيتونو ته اشاره کوو:
«يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ.» «ای خلکو، له خپل پالونکي څښتنه پروا ولرئ، کومه زلزله چې به په ساعت [قيامت] کې پېښه شي يوه ستره پېښه او چار ده.» [حج۱(۲۲:۱)]. يا «إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا.» « هاغه مهال چې ځمکه په سختۍ ولړزول شي.» «رجّ» يعني ټکان او په ډېره شديده توګه لړزېدل، چې دا ډول يوه زلزله به د اوسنيو محاسباتو له مخې څو ريښتره وي د هاغو مسئلو له ډلې ده چې ځواب يې ښايي علم يوه ورځ روښانه کړي، «وَ بُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا.»«او غرونه [به] په سختۍ ټوټه ټوټه [او وټکول] شي. [او ورژول شي]» غرونه به داسې ټوټه ټوټه او ورژول شي چې ټول به له بيخه و ايستل شي. «فَكَانَتْ هَبَاء مُّنبَثًّا»«نو [غرونه به] خپره وره دوړه شي.» يعني په وړو وړو ذرو به بدل شي او لکه د بړاس په څېر به شي. [واقعه۴(۵۶:۴) تر۶].
«يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ. تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ» «داسې ورځ [به راشي] چې هاغه لړزېدونکي [ځمکه يا آسمان] په سختۍ ولړزيږي. ورپسې به راشي، بله راتلونکي. [= د پېښو يوه لړۍ چې يوه په بلې پسې وي او يوه له بلې سرچينه نيسي]. يعني ورپسې به په پرله پسې توګه پېښې راڅرګندې شي. [نازعات۶(۷۹:۶) او۷].

دا پېښې کېدی شي زموږ له ليده لېرې او ناشوني وبرېښي، خو هغوی چې د نجوم، فضا او کهکشان په اړه مطالعه لري پوهيږي چې تر اوسه په زرګونه نمونې او مثالونه يې په فضا کې پېښ شوي دي. او زرګونه سيّارې متلاشي او د غبار په څېر په فضا کې خپرې شوي دي، پر دې بنا دا اشارې چې د ځمکې د سرليک په اړه شوي د هغوی له نظره يو عجيبه څيز نه دی. يا همدا رنګه چې وايي: «يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَ كَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَهِيلًا» پر هغې ورځ چې ځمکه او غرونه په لړزه شي. او غرونه [د جاذبه ای نظام په تغير کې، لکه] د روانو شګو ډېرۍ شي[مزمل۱۴ (۷۳:۱۴)].

يعني هغه ورځ به ځمکه او غرونه داسې په لړزه شي چې غرونه به لکه د شګو د ذرو په څېر لاندې راوغورځي. مطلب دا کوم انسجام چې اوس د جاذبې د ځواک له اغېزې د غرونو په

ټوټو او ذراتو کې شتون لري او هغوی يې يو تر بله نښلولي دي،د جاذبې له کمېدو او پورته کېدو سره سم،نابېره له منځه ځي او د غره برخې او ټوټې يو پر بل کوليږي او ښوئيږي او د شګو پر ستره ډېرۍ او يا په روانو شګو بدلېږي.

په بل آيت کې، پخپله پر ځمکې د ټکېدلو په اړه وايي: «كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا.» «هېڅکله [دا ډول بې لارېتوب پرته له بدو پايلو نه دی] داسې نه ده [چې دوی يې انګېري!]، هغه مهال چې ځمکه سخته وټکول شي له پرله پسې سختو ټکولو سره» [فجر۲۱(۸۹:۲۱)]. په نورو سورتونو کې يې هم د ځمکې له ټکېدلو او ماتېدلو څخه چې، ګواکې د هسته اي ځواک تر اغېز لاندې واقع شوي وي، خبره شوې ده.

په ډېريو آيتونو کې يې هم د غرونو په خپريدلو او د دوړو او لړو په ذرو د هغوی بدلېدلو ته اشاره کړې ده: وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنفُوشِ «او غرونه به لکه د حلاجي شوې وړۍ په څېر شي [له يو تر بله بېلو ذراتو سره].» [قارعه ۵(۱۰۱:۵)] په دې پېښه کې، غرونه، له خپل ټول دروندوالي، سختوالي او کلکوالي سره به لکه د رنګينې وړۍ په څېر ووهل شي او لکه د وړۍ په څېر به سپک شي. او په بل سورت کې: «يَوْمَ تُبَدَّلُ الأَرْضُ غَيْرَ الأَرْضِ...» «هغه ورځ چې دا ځمکه په بله ځمکه بدله شي...» [ابراهيم ۴۸(۱۴:۴۸)] هغه ورځ چې ځمکه به په بله ځمکه بدله شي سره ددې چې انسانان يې دا بڼه تلپاتې او هوسا ګڼي. او آسمانونه به هم غير له دې آسمانونو شي.

د «طه» په سورت کې وايي له تا د غرونو په اړه پوښتي، «وَ يَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا. فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا.» «[ای پيغمبره، خلک] له تا د غرونو [د وضعيت] په اړه پوښتي [چې په قيامت کې به څنګه وي]. ورته ووايه چې زما پالونکی ښتن به هغوی په بشپړه توګه تار په تار کړي. او [د يو ستر چاودون له اغېزې به] ځمکه [لکه] صافه صافه بيديا وګرځوي» [طه ۱۰۵(۲۰:۱۰۵) او۱۰۶] پيغمبر اکرم ته وايي چې خلکو ته ووايه چې زما پالونکی ښتن به دا ټولې لوړې ژورې له منځه يوسي او ځمکه به صافه او هواره دښته پرېږدي. صفصفاً يعني د ځمکې سطحه به لکه د هنداري په څېر صافه او برابره شي، په داسې ډول چې «لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا.» [په داسې ډول] هيڅ [راز] لوړه ژوره په هغې کې نه وينې. [طه۱۰۷(۲۰:۱۰۷)] يعني په هغې کې به ډېر لږ لوړوالی او ټيټوالی په نظر رانشي يعني صافه صافه او سل په سلو کې همواره.

وسمهال د نجوم د علم په رڼا کې ويل کيږي چې نيوتروني ستوري په همدې ډول دي. يعني کله چې جاذبه له يوه حده او بريده تجاوز وکړي، اصلاً اجازه نه ورکوي چې د ځمکې هيڅ يوه برخه له بلې برخې اوچته شي. يعنې د جاذبې فشار به دومره زيات شي چې د ځمکې ټوله سطحه به هواره او په يو شان کړي. معمولاً ستوري چې کله د خپل عمر وروستي پړاو ته رسيږي، دهغوی ستره برخه چوي [منفجر کيږي] او تيت وپرک کيږي او يوازې يوه هسته له هغوی پاتيږي او هغه هسته د داسې فوق العاده جاذبې ځواک لرونکي ده چې د هغې د سطحې پر مخ د اختلاف او لوړوالي ژوروالي شتون له منځه ځي. د هغې پر سطحه شوني نه ده حتا د يوې ذرې په کچه لوړ يا ټيټ څه ښکاره راشي.

همدا اوس هم که د ځمکې جاذبه په ډېره لږه کچه له دې لږه وای، د مثال په توګه کېدی شو زموږ قد لس شل متره وای. او پر عکس يې، که جاذبه تر دې لږه زياته وای، زموږ قد ښايي له شل سانتي مترو زيات شوی نه وای. يعني د جاذبې ځواک له لامله دی چې د انسان قد او قامت په دې کچه دی. بيا هم د «انشقاق» په سورت کې چې مخکې مو هم ورته اشاره وکړه د ځمکې له انبساط او د حجم د زياتېدو په اړه يې ويلي دي: «وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ. وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ.» [انشقاق۳(۸۴:۳)او۴] او هاغه مهال چې ځمکه کش کړي شوې وغځيږي او هاغه څه چې په خپل دننه کې لري بهر ته واچوي او تشه شي. له دې پرته په نورو سورتونوکې هم د ځمکې د ثقل [درنو توکو] د خارجېدو په اړه مطالب راغلي دي.

په هر حال، دا ځمکه چې وسمهال دومره رامه او آرامه ده او زموږ لپاره د ځانګو او ګهوارې په څير ده او د قرآن په قول زموږ لپاره فرش شوې ده او داسې ثابته او بې حرکته برېښي، نابېره به ددې په خبر چې يوه ستره چاودنه په کې رامنځته شي، شيندل کيږي او لکه د رسيدلې مېوې په څېر چې له ونې راپرېوځي اړيکه يې زموږ له شمسي منظومې يا کهکشان سره پرې کيږي.

د انشقاق د سورت په بحث کې مو وويل چې د هرې ښکارندې بېلېدل له خپل اصل او خپلې مور او چاپېرياله ګواکې په عالم کې يو قانون دی. سمدم لکه د مور د لنګون په څېر، چې نوزېږي چون د بشپړېدو پړاو يې د مور په رحم کې تېر کړی، نابېره يو اووښتون پکې پيدا کيږي او هماغه ساتونکی رحم، له درد او سخت فشار سره، نوزيږی باهر ته ورکوي. دا قاعده هم د جهان د پديدو او ښکارندو په اړه او هم دټول جهان په اړه صادقه او رينتيني ده.

مخکې مو وويل چې ځينې له ونو وروسته له دې چې ګل نيسي او د مېوې وړکولو وخت يې ورسېږي، د مېوې ساتونکې پوټکې نابېره چوي او هغه تر سلو مترو او کله کله تر دوو سوو مترو واټن پورې [د ګياه او ونې د ډول له مخې] خارج ته توغوي؛ يعنې د پوټکي پر مخ له هماغه لړزش او د ګياه له دننې چاودون سره، ميوه بيرون ته توغول کيږي. يا ځينې له همدغو خوراکي مېوو هم کله چې ورسېږي، ورو ورو تر دې کچې درنېږي چې پخپله له ونې پرېوځي يا له يو مختصر ټکان سره له ښاخه رابېلېږي. خو همدا مېوه چې خامه او نارسېدلې وي بايد هغه په زوره له ښاخه وشکول شي.

قرآن هم د ځمکې او لمر په اړه همدا وايي«...ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ...» «..[دابنکارنده] په آسمانونو او ځمکه کې دروندوالی کوي...». ځمکه درنېږي، خو نه د وزن له مخې. «...لاَ تَأْتِيكُمْ إِلاَّ بَغْتَةً...» «...[د هاغې مېوې په څېر چې پر ونه پخه شوې وي، د سقوط او غورځېدو وخت يې رسېدلی وي] له ناڅاپه توګه پرته پر تاسو نه رسېږي...» [اعراف۱۸۷ (۷:۱۸۷)] يعنې د پخې شوې مېوې په څېر چې د غورځېدو او توغېدو وخت يې رسېدلی وي، ناڅاپه، نابېره او بَغتتاً بېلېږي.

دا انشقاق او بېلېدل داسې يو څيز دی چې په کهکشانونو کې د نورو ستورو لپاره تل پېښيږي. په لايتناهي کې ميلياردونه لمريز کهکشانونه شتون لري او له دې حال سره هر ورځ په هغوی کې نوي ستوري زېږيږي او ځينې ستوري مري، تل دا تحولونه او اووښتونونه شته. خو موږ ددې آرامې سيّارې پر مخ له دې پېښو خبر نه يو او ګومان کوو دا پېښې به له موږ سره ونشي. خو لکه څنګه چې اشاره مو وکړه، ښايي کابو سل آيتونه په قرآن کې شتون ولري چې د ځمکې نهايي او د پای له سرليکه يې يادونه کړې ده چې حالت به يې څنګه شي او چرته به ورسيږي او د قيامت په درشل کې به څه پېښې وشي، او همدا راز يې ور سره ورسره په ډېريو آيتونو کې په هاغې ورځ د انسان له سرليکه خبره کړې ده.

له ويلو شو مطالبو څخه بايد دا و نه انګېرل شي چې قرآن ددې لپاره راغلی چې موږ ته د فزيک او نجوم درس راکړي او يا د چا خبره موږ ته سائنس [Science] رازده کړي، دا څيزونه بايد انسانان پخپله زده کړي، خو قرآن چون د آيتونو، علامو او [Signs] کتاب دی، نو ددې مسئلو له ذکر څخه د قرآن موخه داده چې موږ ته يادونه وکړي چې دا ځمکه چې تلپاتې يې ګڼې او ګومان کوې چې هيڅ بنستيز بدلون او تغير به پکې رامنځته نه شي،

خو دا چون پخپله د کائناتو د نورو برخو له لړه يوه برخه ده نو سرليک به يې هم له هغوی ځانګړی نه وي او تر ابده به تلپاتې پاتې نه شي او يوه ورځ به له منځه ځي، که څه هم حيات او ژوند په کلي توګه له منځه نه ځي.

په دې اړه چې حيات په کلي توګه له منځه نه ځي په قرآن کې څو ځايه اشاره شوې ده: «تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَاوَاتُ السَّبْعُ وَالْأَرْضُ وَمَنْ فِيهِنَّ وَإِنْ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِنْ لَا تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ..»[الاسراء۴۴(۱۷:۴۴)] «اوه ګوني آسمانونه او ځمکه او هر څه چې پکې دي، ټول د الله تسبيح [سپېڅلتيا] وايي او [اصلاً] هيڅ څيز نشته پرته له دې چې د هغه په ستاينه تسبيح کوونکي وي؛ خو تاسو د هغوی په تسبيح نه پوهېږئ...». او کله هم وايي: دنيا به کله په آخرت تبديله شي؟ هغه مهال چې ټول موجودات، په بله بڼه څرګند شي«...وَإِنَّ الدَّارَ الْآخِرَةَ لَهِيَ الْحَيَوَانُ...»[عنکبوت ۶۴(۲۹:۶۴)].«...بېشکه د آخرت هستوګنځی، هماغه [واقعي] ژوند دی...».

نو په دې هم بايد پوهه وشي چې هيڅ څيز نه معدومېږي او له منځه نه ځي. بلکې په بله بڼه او حالت اوړي او حيات يې، د الهي فرمان له مخې، په بل چاپېريال او شرايطو کې او په بل ډول او بڼه استمرار او تلوالی مومي. نو دا چې ومو ويل «له منځه ځي»، مطلب دا نه دی چې معدومېږي، بلکې په دې معنا دی چې په بله بڼه خپل ژوند او حيات ته ادامه ورکوي. ټول ستوري او لمرونه چې ټوټه ټوټه او ښيندل کېږي د هيڅ يوه، ذرې له منځه نه ځي، بلکې يوازې هاغه بڼه او ځانګړی ترکيب يې چې درلود او هغه مخکينۍ وضعه يې له منځه ځي او د هغوی له ذراتو، برخو او اجزاؤ بياځلې، تر نورو شرايطو لاندې، نور ستوري رامنځته کېږي. پر دې بنا، د هغوی مرګ د هغوی د عدم په معنا نه دی. پرله پسې په عالم کې به نوې بڼه او نوی ترکيب پيدا کېږي او نوی آرايش او نوی نظام به را څرګندېږي.

---

۱ ـ «زُلْزِلَتِ» يو مجهول فعل دی چې لاملونه، هستوونکي او تحقق ته رسوونکي ځواکونه يې زموږ لپاره ناپېژاندي او پټ دي، همدا بس دی چې نکره راتلل يې د هغې پر عظمت او هيښنتيا دلالت کوي.

دې حيرانوونکي پېښې ته په نورو سورتونو کې هم اشارې شوې دي له هغې جملې :

[حج ۱ (۲۲:۱)] ـ « يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ» [ای خلکو له خپل پالونکي څښتنه پروا وکړئ چې له شکه پرته د قيامت د ساعت زلزله عظيم او ستره ده]

[نازعات۶(۷۹:۶) او۷] ـ «يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ» [هاغه ورځ چې هغه لړزيدونکي ولړزيږي

او ورپسې پیښې راڅرګندې شي].

[مزمل ۱۴(۷۳:۱۴)] ـ «يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَهِيلًا» [هاغه ورځ چې ځمکه او غرونه سخت په لړزه راشي او غرونه د روانوشګو ډېری شي.

۲ ـ درانه بارونه، داسې بریښي چې همدا ویلي شیره یي توکي دي چې په عادي شرایطو کې د ځمکې جامده پوسته، د هغوی د ځوښن او خوټېدلو لپاره سرپوښ ګڼل کیږي. ددې پوستې له سختې لړزې او ښیرې کېدلو او چاودېدلو سره، ددې موادو او توکو د وتلو او خروج لار پرانیستل کیږي. له سترې او عظیمې زلزلې سربېره، د ویلي توکو په خروج او د ځمکې په تشېدو کې په قرآن کې نور لاملونه او عوامل هم ګڼل شوي دي. له هغې جملې:

الف: د ځمکې د جامدې پوستې کش کېدل او غځېدل:

[انشقاق ۳(۸۴:۳) ـ«وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ، وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ.» هغه ورځ چې ځمکه کش کړل شي او هر څه چې په هغې کې دي، بیرون ته توی شي او تشه شي].

ب: د پوستې ماتېدل او لیرې کېدل:

[حاقة۱۴(۶۹:۱۴) ـ «وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً» کله چې په شیپور کې وپوکول شي، ځمکه او غرونه له خپله ځایه پرې او اوچت شي او له یوه درځ او جټکې سره ښیندل کیږي].

ج: د ځمکې د سطحې صاف او ښوی کېدل:

[طه ۱۰۵(۲۰:۱۰۵)تر۱۰۷]«وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا،فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا،لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا.»[او له تا د غرونو په اړه پوښتي،ووایه چې زما پالونکی ښتن هغه له بېخه راوباسي او ځمکه لکه د سارا په څېر سوچه صافه ګرځوي په داسې ډول چې هیڅ لوړه ژوره پکې نه وینې].

---

## وَقَالَ الْإِنْسَانُ مَا لَهَا﴿۳﴾

او انسان وایي: چې پر دې [ځمکه] څه کیږي[(۳)] [چې داسې لړزیږي]؟!.

## يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا﴿۴﴾

په هغه ورځ کې [ځمکه] خپل خبرونه [پر له پسې] بیانوي[(۴)] [=څرګندوي ـ ښکاره کوي]

## بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا﴿۵﴾

د هاغه [تکویني فرمان] له کبله چې ستا پالونکي ښتن پرې وحی کړې.[(۵)]

| وَقَالَ | الْإِنْسَانُ | مَا لَهَا | يَوْمَئِذٍ | تُحَدِّثُ | أَخْبَارَهَا | بِأَنَّ | رَبَّكَ | أَوْحَى | لَهَا |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| او وایي | انسان | پردې څه کیږي | په هغه ورځ کې | بیانوي | خپل خبرونه | له دې کبله چې | ستا پالونکي ښتن | وحی کړې | هغې ته |

وَقَالَ الْإِنسَانُ مَا لَهَا. په هغې پېښه کې انسان، ډارژلی، وېرژلی او هک پک انسان، پوښتنه کوي چې څه پېښه وشوه؟ څه شوي، څه خبره ده؟ سره ددې چې انسان له دې مخکې د زلزلې سابقه لري او هر چا په خپل عمر کې زلزله ليدلې ده، خو دا زلزله او ټکان خوړل، او خوځښت څه بل شان او بل ډول دی چې انسان به حيران او هک پک شي او لا تر اوسه نه پوهيږي چې څه شوي دي او لا نه پوهيږي چې اوضاع عوض شوې ده.

نو وايي: «مَالَهَا» ځمکې ته څه خبره ده؟ په دې څه شوي؟ دلته کېدی شي وپوښتل شي چې خلک په هماغه مهال کې چې دا پېښه رامنځته شي دا ډول پوښتنه پوښتي؟ يا نه، خو په ټوليزه توګه انسان ته مطرح ده چې پر ځمکه به څه تېر شي او سرليک به يې څه وي؟ کومه توضيح چې په ورپسې آيت کې په لنډه توګه راغلې بس يوازې همدا ده چې:

يَوْمَئِذٍ تُحَدِّثُ أَخْبَارَهَا. «يَوْمَئِذٍ»: په هغه ورځ. (ـئِذٍ) بدل له (اِذَا) دی. «تُحَدِّثُ» خبره کوي. نقل کوي. بياوَيَنه کوي. دا خبره کول دا نقل کول او بيا وينه کول، يا د قال په ژبه ده او ځمکه د انسانانو د عملونو شاهده او ناظره وه، او ځمکه به په داسې ډول خبري کوي لکه څنګه چې د خبرې کولو له طريقې سره موږ آشنا يو، او يا دا چې د حال په ژبه ده. يعنې د ځمکې وضعه به پر هاغه مهال د هر څيز بيانوونکي وي، په داسې بڼه چې موږ ورسره آشنا نه يو او په داسې يوه ورځ کې به حق او باطل څرګند او ښکاره شي.

موږ په دې پو هيږو چې انسان د ځمکې پر مخ ژوند تېروي دا که په غار کې وي که په ماڼۍ کې، په جوګې وي او يا که کښتۍ کې، په هر حالت کې په يوه بڼه نه يوه بڼه له ځمکې سره يې اړيکه شتون لري ځکه چې د انسان بنسټ او څټه په ځمکه کې ده نو د همدې لپاره لکه څنګه چې الله تعالی انسان ته د هغه د تن غړي د هغه پر کړنو د ګواه او شاهد په توګه نيسي همدا راز هغه که د ځمکې پر هره برخه کې هر ډول عمل سرته رسولی وي که ښه وي او يا که بد، ځمکه به يې بيانوي. هغه يې دلته له اخبار سره تعبير کړې دي.

«اَخْبَارَهَا»: د ځمکې اخبار، هاغه اوضاع او احوال دی چې پر هاغه مهال پر سترګو لګي، يا هاغه فعلونه او عملونه دي چې خلکو د هغې پر مخ سر ته رسولي دي او دادی اوس پرې ګواهي ورکوي. ځکه چې هر څيز په جهان کې ثبت او ضبط دي. نو ځمکه هم خپل خبرونه بيانوي، يعنې په دې وخت کې يا تر دې ټکان وروسته به ځمکه په خبرو راشي او پرې تېرې شوې پېښې او کيسې به بيانوي.

د تشبيه او بېلګې په توګه چې البته دا تشبيه هم کېدی شي ضعيفه وبرېښي؛ ټوله ځمکه او د ځمکې ټول ذرات د ثبت او ضبط د دستګاه حکم لري تر هاغې چې د دنيا عالم، عالم شتون لري ثبت يې کاوه او کوم مهال چې د آخرت عالم کېږي دا ريکارډر پرانيزي، او هماغه هر څه چې پرې تېر شوي بيانوي يا کېدی شي ووايو ټول عالم يو ستر کمپيوټر وو چې ټولې پېښې او بيانونه يې له ازله تر ابده په ځان کې نغاړلي، او په هاغې ورځ کې ځمکه د ميلياردونو کلونه تير شوي بيانوي.

د هستۍ د کتاب پاڼې که ورستې هم شي، د لېکونکي لپاره يې بيا ځل لېکنه تر لومړي ځل لېکنې آسانتره ده او لوستونکو يې وسمهال د علم او پوهې او د هغو وسايلو په مرسته چې جوړ کړي يې دي، د هاغو تحولاتو په يو شمېر رمزونو او اسرارو چې پر جهان تېر شوي دي خبر او پوه شوي دي، اوس چې دا ډول لوستل ورځ تر بلې بېره ناک او ډېر پراخوالی مومي، دا له حقيقته لېرې نه ده چې زموږ انګېرنې، وېناوې او چال چلن په راتلونکي کې ونه لوستل او ونه لېدل شي؟

وسمهال چې څو ميليارد کلونه د ځمکې له عمره تېرېږي او ډېرې پېښې پکې واقع شوي دي. او دا چې څومره موده به د ځمکې تر پايه نور وغځېږي، الله پوهيږي. خو په هاغه لړزېدا او خوځښت کې چې په هاغه ورځ د ځمکې د عمر په پای کې به رامخته شي د ځمکې د تېرو شوو پېښو ماهيت او حقيقت به راښکاره شي، يا «اخبار» چې انسان پورې اړوند خبرونه دي؛ يعنې زموږ د کړنو او چلن خبرونه. ددې په څېر دی چې په ښوونځي کې د کال په پای کې هر څوک خبرېږي چې په چانته کې يې څه درلودل او په خپل دېګ کې څه پاخه کړي دي، څومره درس يې ويلی او څه شمېره يې لاسته راوړې ده.د ځمکې د عمر په پای کې هم ټول خبرونه څرګندېږي چې هرڅوک څه کاره وو، څه کړنې يې کړي دي او د چلن پايله چې په ژوند کې يې درلود څه ده. ولې دا ډول اوښتون په ځمکه کې رامخته کېږي؟ ځکه چې :

**بِأَنَّ رَبَّكَ أَوْحَى لَهَا.** «بِاَنَّ رَبَّکَ ...»: د باء توری سببيه دی. له دې کبله چې ستا رب ... «اوحی»: پيغام ورکړ، فرمان ورکړ. «لَهَا»: ورته. ددې لپاره چې ستا پالونکي څښتن ــ ستا رب ــ پرې وحی کړې ده. خدای تعالی ځمکې ته وحی کړې چې ووايه، هاغه څه چې په زړه کې، په ځان کې لري ووايه؛ هغه ته يې اجازه ورکړې ده چې ووايه.

«وحی» یوه ښکارنده ده چې قرآن، په مختلفو اړو، او مختلفو ډګرونو کې پرې خبرې کړې دي. د «وحی» کلمه چې ۷۸ ځله په قرآن کې تکرار شوې ده، په ناپېژندل شوي طريقه پر خبرې کولو او د پيغام په لېږد دلالت کوي. له هغې جملې دا خو څرګنده ده چې پيغمبرانو ته وحی شوې ده. په قرآن کې زياتره د پيغمبرانو د وحی په اړه خبره کېږي. خو وحی په عامه معنا هغوی ته ځانګړې نه ده، د حضرت عيسی حواريونو ته يې وحی کړې ده: « وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ »« او [در ياد كړه] چې كله مو حواريونو ته وحی وكړه چې پر ما او زما پر استازي ايمان راوړئ. [هغوی پرته له ځنډه] وويل: ايمان مو راوړ او شاهد اوسه، چې موږ [حقيقت] ته تسليم يو» [مائده۱۱۱ (۵:۱۱۱)].

او د حضرت موسی مور ته يې هم وحی كړې ده « وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ وَلَا تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ. » «او [بهير له هاغه ځايه پيل شو چې] چې د موسی مور ته مو وحی وكړه چې هغه ته تی وركړه، خو كله چې [پر ځان يې] وويرېدې، هغه[د نيل] سيند ته واچوه او مه ويرېږه او مه خوابدې كېږه [؛ ځكه]چې تاته يې بېرته درستنوو او له استازو يې ګومارو.» [القصص۷(۲۸:۷)].

او خدای تعالی وايي چې د شاتو مچۍ ته يې هم وحی كړې ده: «وَأَوْحَى رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ...»«او ستا پالونكي ښېنتن د شاتو مچۍ ته وحی وكړه ...» [نحل ۶۸ (۱۶:۶۸)]. يا د آسمان اوه ګونو طبقو او د ځمكې جوّ ته هم وحی شوې ده: «...وَأَوْحَى فِي كُلِّ سَمَاءٍ أَمْرَهَا...»«..او د آسمان [هر پوړ] ته مو د هغوی نقش وحی كړ...»[فصلت ۱۲ (۴۱:۱۲)]. يعنې خدای تعالی د آسمان د هرې طبقې نقش او چال چلن هغوی ته وحی كړی دی.

په واقعيت كې وحی يو ډول الهام دی؛ يو ډول ښوونه ده. حتا انسان هم په خپلو كې كولی شي يو بل ته وحی وكړي. يعنې په قرآن كې د «وحی» كلمه د انسانانو په اړه د هغوی په خپل منځ كې هم كارول شوې؛ زكريا (ع) چې د پرښتو سره له ملاقاته او د يحيی (ع) د زېږد له زيري سره د ژبې په ترټې توب او په خبرو كولو كې له ناتوانۍ سره مخامخ شوی وو، د اشارو او د لاس په حركت يې دعبادت له محرابه خلكو ته د شپېنيو تسبيح توصيه او بلنه كوله: له محرابه يې نورو ته وحی وكړه، يعنې په يوه ځانګړې علامت يې اشاره وكړه،

چې سبا او بېګاه تسبيح واياست. «فَخَرَجَ عَلَى قَوْمِهِ مِنَ الْمِحْرَابِ فَأَوْحَى إِلَيْهِمْ أَنْ سَبِّحُوا بُكْرَةً وَعَشِيًّا» [مريم ۱۱ (۱۹:۱۱)]. هغه مهال [له داسې نښې سره] د [عبادت] له محرابه راووت. او هغوی ته يې اشاره وکړه چې ګهيځ او بېګاه [پرله پسې] د خدای تسبيح وکړئ.
قرآن دا ډول حالت وحی نومولی دی؛ په ناپېژندل شوې او غير معموله طريقه نورو انسانانو ته د يو انسان وحی. د پيغمبر پر ضد د شيطان صفتانو توطئه کړې پټې خبرې کول هم، چې ناڅرګندې، غير صرېحې او منافقانه دي، قرآن وحی نومولې دي:

«وَكَذَلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوًّا شَيَاطِينَ الْإِنْسِ وَالْجِنِّ يُوحِي بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ زُخْرُفَ الْقَوْلِ غُرُورًا وَلَوْ شَاءَ رَبُّكَ مَا فَعَلُوهُ فَذَرْهُمْ وَمَا يَفْتَرُونَ»
«او [که وينې چې منکران ډلې ډلې ستاپه مقابل کې په غورځنګ دي] موږ په دې ډول [په خپل مشيّت کې] د انس او جن [ = آشنا او ناآشنا / ښکاره او ماسک والا] له شيطان صفتانو څخه د هر پيغمبر لپاره دښمنان ګرځولي دي چې [ددغې آزادۍ او اختيار تر سېوري لاندې، دا] خبرې له غولوونکي ظاهري سينګار سره [د انبياؤ د مکتب په مقابل کې] يو تر بله وحی [پيغام رسونه] کوي. او که ستا پالونکي څښتن غوښتلی؛ [د هغوی مخه يې نيوله او] داسې به يې نه کول. نو [چون قرار پر دې دی چې د عقيدې او بيان آزادي وي] هغوی او هاغه څه چې [له خپلو باطلو فکرونو څخه] اوبې، په خپل حال يې پرېږده.» [انعام۱۱۲ (۶:۱۱۲)].

«وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِ اسْمُ اللَّهِ عَلَيْهِ وَإِنَّهُ لَفِسْقٌ وَإِنَّ الشَّيَاطِينَ لَيُوحُونَ إِلَى أَوْلِيَائِهِمْ لِيُجَادِلُوكُمْ وَإِنْ أَطَعْتُمُوهُمْ إِنَّكُمْ لَمُشْرِكُونَ.» «او له ها څه چې د الله نوم پرې نه وي ذکر شوی مه خورئ چې په تحقيق دا کار، فسق [= د خدای د حکم مات] دی او پرته له شکه شيطانان [= د شرکي نظام چارواکي] خپلو دوستانو [= پلويانو] ته وحی [اشاره] کوي چې له تاسو سره [د عقيدې د تغيير لپاره] مجادله وکړي او [پوه شئ] چې که له هغوی پلويني وکړئ، تاسو به هم مشرکان اوسئ.» [انعام ۱۲۱ (۶:۱۲۱)].

نو پر دې بنا د مطلب او مقصود هر ډول لېږد، چې په عادي او متعارفو روشونو او طريقو نه وي، وحی بلل کېږي. يو مهال داسې وي چې موږ په خپلو کې له يو بل سره خبرې کوو او خپل مقصد او موخه د وينا او خبرو له لارې يو بل ته لېږدوو، يا هغه ليکو، دا ټول د معنا د لېږد او انتقال پېژندل شوي روشونه او طريقې دي، خو يو مهال داسې وي چې د يوې

ځانګړې اشارې، يو حرکت په توسه په مرموزه او نا پېژندل شوې طريقه خپل منظور او مقصد يو بل ته رسوو چې دا روش او طريقه په عامه توګه نورو ته متعارفه او پېژندل شوې نه ده. دې ته «وحی» وايي. په هر حال، خدای تعالی په داسې ډول چې موږ ته مجهول دی، آسمانونو او ځمکې ته الهام وکړ او دا پېښې په هغو کې واقع شوې دي. تر دې ځايه دا د سورت لومړنۍ برخه ده.

---

۳ ـ قيامت به، لکه د عذاب په خبر، په مختلفو آيتونو کې د قرآن په څرګندونه، نابېره [بَغْتَةً] وي. په دې صورت کې او له داسې بدلونونو سره په ځمکه او آسمان کې به، کوم خوځنده پاتې نه شي چې انسان دا ډول پوښتنه مطرح کړي مګر دا چې دا اووښتونونه او تحولات د کيهاني تحولاتو د ورځې په مقياس چې د قرآن په څرګندونه يوه ورځ يې له زرو بشري کلونو سره برابره ده [حج ۴۷ (۲۲:۴۷)] څرګند شي، يا دا چې پوښتونکی د خاورو له منځه له داسې يو وضعيت او حالت سره اوچت شي چې موږ ته د تصور وړ نه دی.

۴ ـ د ځمکې اخبار[خبرونه] څه شيز دی او وړاند وينه يې څه ډول ده؟ آيا مطلب يې د ځمکې د طبيعي تحولاتو تاريخ او هاغه پړاوونه دي په دې ۶/۴ ميلياردو کلونو کې پرې تېر شوي دي، يا د آدميانو د کړنو او عملکرد خبرونه دي چې د هغې پر شا يې ژوند کړی دی؟ په هر حال په جهان کې هيڅ راز اطلاعات، اخبار او معلومات نه ورکيږي او ټول خيزونه په «امام/مبين کتاب» کې محفوظ پاتې کيږي [يس ۱۲ (۳۶:۱۲)، انعام ۵۹ (۶:۵۹)، نمل ۷۵ (۲۷:۷۵)، سبا ۳ (۳۴:۳) او...].

د هستۍ د کتاب پاڼې که ورستې هم شي، د لېکونکي لپاره يې بيا ځل لېکنه تر لومړي ځل لېکنې آسانتره ده او لوستونکو يې وسمهال د علم او پوهې او د هغو وسايلو په مرسته چې جوړ کړي يې دي، د هاغو تحولاتو په يو شمېر رمزونو او اسرارو چې پر جهان تېر شوي دي خبر او پوه شوي دي، اوس چې دا ډول لوستل ورځ تر بلې بېره ناک او ډېر پراخوالی مومي، له حقيقته لېرې نه ده چې زموږ انګېرنې، ويناوې او چال چلن په راتلونکي کې ونه لوستل او ونه لېدل شي؟

ای خِرَد بر کش تو پَرْ و بالها — سوره برخوان زُلْزِلَت زِلزالها
در قيامت اين زمين بر نيک و بد — کی ز ناديده گواهي ها دهد
که تُحَدِث حالها و اخبارها — تُظْهِرُ الارضُ لها اَسرارَ ها

[مثنوی معنوی ۴ له ۴۲۲۱ بيتونو څخه وروسته]

يوم دين که زُلْزِلَت زلزالها — اين زمين باشد گواه حال ها
کاو تُحَدّث جَهْرَةً اخبار ها — در سخن آيد زمين و خارها
نطق آب و نطق خاک و نطق گل — هست محسوس حواس اهل دل

[مثنوی ۱ له ۳۲۹۴ بيتونو څخه وروسته]

۵ ـ د «وحی» کلمه چې ۷۸ ځله په قرآن کې تکرار شوې ده، چې په ناپېژندل شوې طريقه پر خبرو کولو او د پيغام په لېږد دلالت کوي. زکريا (ع) چې د پرښتو سره له ملاقاته او د يحيی (ع) د زېږد له زيرې سره د ژبې په ترېږې توب او په خبرو کولو کې له ناتوانۍ سره مخامخ شوی وو، د اشارو او د لاس په حرکت يې دعبادت له محرابه خلکو ته د شپېنيو تسبيح توصيه او بلنه کوله [مريم ۱۱ (۱۹:۱۱)]. قرآن دا ډول حالت وحی نوملی دی؛ په ناپېژندل شوې طريقه نورو انسانانو ته د يو انسان وحی. د پيغمبر پر ضد د شيطان صفتانو توطئه کړې پټې خبرې کول هم، چې ناڅرګندې، غير صريحې او منافقانه دي، قرآن وحی نوملې دي [انعام۱۱۲ (۶:۱۱۲) او ۱۲۱]. خدای تعالی سربېره پر پيغمبرانو، د شاتو مچۍ ته [نحل ۶۸ (۱۶:۶۸)]، د ځمکې د جوّ پوړيو ته [فصلت ۱۲ (۴۱:۱۲)]، د حضرت عيسی حواريونو ته [مائده ۱۱۱ (۵:۱۱۱)]، او د حضرت موسی مور ته [اعراف ۱۶۰ (۷:۱۶۰)] يې هم وحی کړې ده.

---

## يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ ﴿۶﴾

**په هغه ورځ خلک جلا جلا [بېل بېل او يو تر بله مختلف، د خاورو له قيده] د باندې راوځي(۶) چې کړني [او عملونه] يې ورته وروښودل شي،(۷)**

| يَوْمَئِذٍ | يَصْدُرُ | النَّاسُ | أَشْتَاتًا | لِيُرَوْا | أَعْمَالَهُمْ |
|---|---|---|---|---|---|
| په هغه ورځ | د باندې راوځي | خلک | جلا جلا ـ ګډ وډ او مختلف | چې ووينې | خپلې کړنې |

---

خو هاغه څه به چې د انسان په اړه رامخې ته شي: يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ. «يَوْمَئِذٍ»: ـ په هاغه ورځ — د «يَصْدُرُ» فاعل اسم، صادر دی، له دې سره ورته لفظ وارد دی د دواړو تر منځ توپير دادی چې وارد، نوو راتلونکو ته وايي او صادر بېرته راتلونکو ته وايي، راستنېدونکي: يعني بيرون ته راځي. «النَّاسُ»: خلک، انسانان «صادر» کيږي. راخارجيږي، بهر ته راوځي «اَشْتَاتاً»: د شَتيت جمع، خواره واره.

په دې ورځ خلک راوځي، راکرځي، بېرته راځي، بېل بېل، نامنظم، خپاره واره، يا په ګډه وډه نامنظمه توګه داسې ډلې چې يو کس له بله هيڅ اړيکه نلري هر يو کس خپلې موخې پسې روان وي، راوتل خو د ټولو دي خو هر يو ځانګړی او بېل روان وي د مريم په سورت کې وايي: «وَكُلُّهُمْ آتِيهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَرْدًا» «او هغوی ټول د قيامت پر ورځ هر يو، بېل بېل هغه ته ورځي.» [مريم ۹۵ (۱۹:۹۵)]. او د انعام په سورت کې دي چې: « وَلَقَدْ جِئْتُمُونَا فُرَادَى كَمَا خَلَقْنَاكُمْ أَوَّلَ مَرَّةٍ...» «او [هغوی ته خطاب کيږي چې تاسو نن ورځ] ايکي يوازې، موږ ته راغلئ هماغه ډول لکه څنګه چې لومړی ځل مو تاسو پنځولي ياست...»

[انعام۹۴(۶:۹۴)]. نو د څه لپاره ځي ددې لپاره: «لِّيُرَوْا». چې وروښودل شي: «أَعْمَالَهُمْ» د هغوی کړنې او عملونه. ددې لپاره چې کړنې او عملونه يې ورته وروښول شي.

نو «صدور» يعنې حرکت کول او پر مخ تګ. لکه صادرات د واردات په مقابل کې. په واقعيت کې د امن او راحت له ځايه خارجېدل، او په بېړه له هغه بيرون راوتل دي. دې ته ورته په قرآن کې له نورو ويونو سره هم راغلي دي: «يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا...» «پر هاغه ورځ چې له ګورونو په بېړه راووځي...» [معارج ۴۳(۷۰:۴۳)]. په مخکېنيو سورتونو کې يې وويل د قيامت (رستاخيز) په ورځ، انسانان له خپل سوکالتون څخه ډلې ډلې خارجيږي او د هر يو د يوې موخې او هدف پر لور روانيږي.

يَوْمَئِذٍ يَصْدُرُ النَّاسُ أَشْتَاتًا. نو پر هاغه ورځ چې خلک راوځي په څه ډول: اشتاتاً يعنې خپاره واره، نا منظم ګډوډ. د «قارعه» په سورت کې به هم ولولو چې راوتل يې لکه د پتنګانو په څېر دي چې په آسمان کې خپاره الوتنه کوي. يعنې داسې نه دي چې د يو نظم او ترتيب پر بنسټ حرکت وکړي او خارج شي. کله چې ټولو ته وحشتناکه پيښه وشي، په طبيعي توګه هر څوک يو کنج او څنډې او يو اړخ ته په تېښته وي او دا تېښته کوم نظم نه لري.

انسانان د څه لپاره او ولې په منډه دي، تښتي او خپريږي؟ ددې لپاره چې: لِّيُرَوْا أَعْمَالَهُمْ. «يُرَوا» د «رؤيت» مجهول فعل دی. يعنې راستنيږي چې کړنې او عملونه يې هغوی ته وروښيږ. د يَصْدُرُ فاعل انسان دی. يعنې انسانان پخپله، په بېړه ځي، خو دا نه چې پخپله خوښه يې هم ويني، بلکې ځي ددې لپاره چې هغوی ته يې عملونه څرګند کړي. يعنې هاغه څه چې د عملونو د څرګندونې لامل کيږي له هغوی بيرون دي او د عملونو د څرګندونې علت او لامل خارجي دی. نو، انسان ته وايي يا هغه را غواړي چې خپل عملونه يې ورته ووښودل شي، او هغه ويني. قرآن په ځلونو څرګنده کړې چې هر څوک خپلې کړنې او يا خپله نفس د عمل ويني؛ پخپله عمل مجسم په بريښننده بڼه ويني، نه د عمل پايله او نتيجه.

ددې لپاره چې په دې اړه مو ښه توضيح ورکړې وي په قرآن کې له نورو آيتونو څخه ګټه اخلو. دا چې ويې فرمايل هر څوک خپل عمل ويني، په نورو ځايونو کې يې هم ويلي دي؛ له هغې جملې د «جاثيه» په سورت کې چې وايي په قيامت کې انسان ته ويل کيږي: «هَذَا كِتَابُنَا يَنطِقُ عَلَيْكُم بِالْحَقِّ...»«دا زموږ [ثبت شوې] ليکنه ده چې په حقه [او ځيرنه] پر تاسو [او ستاسو پر کړنو] خبره کوي...»، يعنې دا کتاب زموږ ثبت او ضبط دی، اوس

وګوره چې څه ډول ستا په اړه ټول څيزونه بيانوي، خو نه د لفظ په توسه، بلکې له لفظ پرته، روښانه او څرګند او ګويا هم تا پخپله، تاته درڅرګندوي او درښکاره کوي.

موږ په خپله ژبه او خبرو کې هم کله کله دا د «خبرو کولو» تعبير د څيزونو لپاره کاروو. د بېلګې په توګه يو انځور ته، چې موږ ته زموږ خاطرې را په زړه کوي د نندارې پر مهال يې وايو دا انځور له ما سره خبرې کوي. ورپسې وايي: «...إِنَّا كُنَّا نَسْتَنسِخُ مَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ.» «...ځکه موږ له هر هغه څه چې تاسو [د عمر په اوږدو کې] کول نسخه اخېستنه کوله.» [جاثيه ۲۹ (۴۵:۲۹)] يعنې موږ ستاسو له ټولو عملونو او کړنو څخه نسخه اخېستله، له مخې مو ليکنه اخېسته سمدم لکه د فوتوکاپي او زيراکس په څېر. عيناً ټکی په ټکی، ذره په ذره ستاسو له عمله مو نسخه او فيلم اخېسته.لکه څنګه چې له پېښو او واقعاتو فيلم ډکوي او يوه نسخه يې په يوه محفوظ ځای کې ساتي. نو ځکه لکه څنګه چې په دې نړۍ کې هيڅ څيز نه هيرېږي؛ نالېدلې نه نېول کېږي ستاسوکړنې هم، شتون لري او درڅرګندېږي.

البته وسمهال دا مسئلې زموږ لپاره له شونتيا او زموږ له ذهن او ليده چندان لېرې نه برېښي. دلته مطلب د غږ له ضبط، [سي - ډي]، [ډي - وي - ډي] او فلش او ددوی په څېر نورو څيزونو څخه دی چې کولی شي زموږ عملونه ثبت او منعکس کړي يا د بېلګې په توګه همدا کېمرې چې په واټونو کې ځای پر ځای شوي دي او شپه او ورځ د خلکو له تګ راتګ او د سړکونو له پېښو او واقعاتو فيلم اخلي. چې هر يو يې د ورځې تر کابو شپېته زره فيلمونو او عکسونو پورې له خلکو اخېستل کېږي. ځېنې کمرې داسې هم دي چې د هغوی په توسه ودانۍ تر نظر لاندې نيسي او د هغوی په توسه د ښار امنيت تأمينوي نو چې کوم جرم که واقع شي، وکولی شي مجرم تعقيب کړي او ويې نيسي. نو، پخپله انسان هم وسمهال ددې کار توان او ځواک پيدا کړی دی.
خو له دې ټولو سره سره بيا هم موږ باور نه کوو چې موږ تر دې ډېر دقيقتر او په بشپړه توګه د خدای تعالی تر نظر لاندې يو؛ د هغه په منظر او مَرآی کې يو؛ زموږ ټولې ويناوې، کړنې او چلن کتل کېږي. ثبتيږي او ساتل کېږي، وايي ته له دې غافل وې.

د «ق» په سورت کې يې دا مطلب له نورو زياتو جزئياتو سره توضيح کړی او ويلي يې دي چې انسان څه ډول له دې الهي نظارته بې خبر دی. وايي چې «مَا يَلْفِظُ مِن قَوْلٍ إِلَّا لَدَيْهِ رَقِيبٌ عَتِيدٌ.» «[انسان] هيڅ خبره په ژبه نه راوړي، مګر دا چې پر هغې ګومارل

شوي څارونکي حاضر چمتو [=طراحي او سمبال شوی] دي.» [ق ۱۸ (۵۰:۱۸)]
هيڅ لفظ او خبره ستاسو پر ژبه نه تېرېږي مګر دا چې کومارل شوي څارونکي څواکونه هغه ليکي. دې ته اشاره کوي چې دوه څواکونه دي چې په دې دنده ګومارل شوي دي.

دا چې ځينې داسې فکر کوي چې مطلب يې دوه پرښتې دي او د هر چا په ښي او کيڼې اوږه ناستې دي چې د هغه، ښه او بد کارونه ليکي. هر نوم چې ورته ورکړې خو دا هماغه څواکونه دي چې تل په دې کار کې بوخت دي او د انسان په اړه اطلاعات اخلي.

د قيامت په ورځ کې هغه مهال چې د انسان د خپلو کړنو ليک ورته ورکړل شي هک پک به شي او وايي به: دا څرنګه ليک دی! عجيبه ضبط او ثبت شوی! چې هيڅ کوم څيز که کوچنی دی او که ستر دی ترې پاتې شوی نه دی. «...وَ يَقُولُونَ يَا وَيْلَتَنَا مَالِ هَذَا الْكِتَابِ لَا يُغَادِرُ صَغِيرَةً وَلَا كَبِيرَةً إِلَّا أَحْصَاهَا...»«...او وايي: های، زموږ بدې برخې! دا څه ډول کتاب [=داطلاعاتو زيرمتون] دی چې هيڅ کوچنی او ستر [عمل] يې پرېښی نه دی، مګر دا چې ټول يې ګڼلي دي؟...»[کهف ۴۹ (۱۸:۴۹)].

د «ق» سورت په بل آيت کې فرمايي: «لَقَدْ كُنتَ فِي غَفْلَةٍ مِّنْ هَذَا فَكَشَفْنَا عَنْكَ غِطَاءَكَ فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ »«[هغه ته ويل کيږي] ته [د دنيايي ژوند په اوږدو کې] له يوه سره له دې [دکړنو د ثبت او ضبط له ميکانيسمه] غافل وې، دادی ستا له سترګو مو [د غفلت] پرده اوچته کړې ده او نن ورځ ستا نظر [ښه] تېز شوی دی.»[ق ۲۲ (۵۰:۲۲)].

ته په دنيا کې له دې ساز او چار غافل وې او اوس آګاه شوې چې څه ډول ستا کړنې ثبت او ضبط کېدلې. هغه ته ويل کيږي چې نن ورځ دې سترګې تېزويني دي او په غور او ځير لېدل کوې، ځکه چې ستا له سترګو مو پردې اوچتې کړې. ښايي په قرآن کې يې کابو شلو سورتونو کې د کړنو اوعملونو ثبت او ضبط ته اشاره کړې او توضيح يې ورکړې ده.

نو په هاغه ورځ کې چې پردې به په حيرانوونکي ډول پورته شي «يَوْمَ يُكْشَفُ عَنْ سَاقٍ...» [قلم ۴۲ (۶۸:۴۲)] انسان ته ويل کيږي: « دا زموږ لېکنه ده چې په رېښتيني توګه ستاسو پر وړاندې خبره کوي، موږ پرله پسې له هاغه څه چې تاسو کول نسخې او يادښتونه اخيستل». په هاغه ورځ ورته ويل کيږي: «ته له دې [د عملونو له ثبت] څخه په غفلت کې وې خو نن ورځ مو له تا څخه پرده پورته کړې او سترګې دې تېزې ويني» په دې ترتيب هغه

انسان چې په خپل دنيايي ژوند کې يې هيڅکله دا نه انګېرله چې چا به هغه، د هغه په پټو چاروکې لېدلی وي «أَيَحْسَبُ أَنْ لَمْ يَرَهُ أَحَدٌ» «آيا انګېري، چې هېچا هغه [په اسراف او د ګناه په کړنو] ليدلی نه دی ؟» [بلد ۷ (۹۰:۷)].
نو په څرګنده او واضحه توګه نابېره د بصيرت له سترګو سره خپل ټول عملونه له ټولو جزئياتو سره مشاهده کوي اوويني او د خپلې پښېمانۍ افسوس خوري «...كَذَلِكَ يُرِيهِمُ اللَّهُ أَعْمَالَهُمْ حَسَرَاتٍ...» « په دې ډول الله د هغوی عملونه [دهغوی] له حسرتونو [او پښېمانۍ څرګندولو] سره هغوی ته ښکاره کوي ...» [بقره ۱۶۷ (۲:۱۶۷)].

د هينښتيا وړ ژوره خبره، خپله د عملونو ليدل دي [نه د هغوی آثار، پايلې، نتيجې او جزا] چې درې ځلې په دې سورت کې تکرار شوې ده او په نورو سورتونو کې يې هم پرې ټينګار کړی دی: قرآن دا مسئله چې موږ خپلې کړنې او عملونه وينو څو ځله تکرار کړې ده. لومړی وايي چې انسان ته د هغوی له عملونو پرته نشته: «وَأَنَّ لَّيْسَ لِلْإِنسَانِ إِلَّا مَا سَعَى. وَأَنَّ سَعْيَهُ سَوْفَ يُرَى.» «او دا چې د انسان لپاره به[هيڅ لاس ته راوړنه] د هغه له هڅې [=په آخرت کې پايله] پرته نه وي. او چې بې شکه د هغه هڅې [پايله] به ډېر ژر وروښودل شي» [نجم۳۹ (۵۳:۳۹) او۴۰] يعني يوازې دهغه هڅه او کوښښ دی چې ورته پاتې کېږي، او هغه همويني، د هغه هڅه به ډېر ژر هغه ته وروښودل شي.

نو موږ خپلې ټولې هڅې يوه ورځ وينو.[دلته د ليدلو فعل د «يرى» له مجهول فعل سره مشخص شوی دی]. يروا اعمالهم، خيرا يره، شرا يره. دا حقيقت دی چې دا ډول ليدنه، چون په آخرت کې د جهل او نادانۍ، ځان وينۍ او دنياپالۍ د پردو له لرې کېدنې سره د ټولو لپاره شونې کيږي او حاصليږي. او د ټولو سترګې تېزويني کوي «...فَبَصَرُكَ الْيَوْمَ حَدِيدٌ» «... او ستا سترګې تېزويني شوې دي.» [ق ۲۲ (۵۰:۲۲)].

او په دنيا کې هم د هاغو کسانو لپاره چې د پورتنيو پردو په اخوا کولو يقيني علم ته رسېدلي وي له ځينو اړخونو شوني کيږي: «وَيَرَى الَّذِينَ أُوتُواالْعِلْمَ الَّذِي أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ هُوَ الْحَقَّ وَيَهْدِي إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ» «او هغه کسان چې علم [او پوهه] ورته ورکړل شوې ده،[د بصيرت په سترګو او علمي ادراک] ويني چې هاغه څه چې ستا د پالونکي څښتن له لورې پر تا نازل شوي، همدا حقيقت [سپېڅلی او د انسان پر فطرت منطبق]دی او د بريمن[عزتمن]ستايل شوي[خدای] لار ته هدايت کوي.»[سبا۶ (۳۴:۶)].

په بل ځای کې وايي چې:
«كَلَّا لَوْ تَعْلَمُونَ عِلْمَ الْيَقِينِ. لَتَرَوُنَّ الْجَحِيمَ. ثُمَّ لَتَرَوُنَّهَا عَيْنَ الْيَقِينِ.» «داسې نه ده، [چې تاسو يې انګېرئ]، که يقيني علم مو درلوداى، پرته له شکه هرومرو به مو دوزخ ليدلى، نو بيا به تاسو هرومرو د يقين په سترګو وينئ.»[تکاثر۵ (۱۰۲:۵)ترر۷] يعنې که تاسو ژوره پوهه او درک درلودى، يقيني علم مو درلودى له ګومان پرته به مو جنت او جهنم لېدلى. هغه به مو د يقين په سترګو ليدلى، نه په ظاهري سترګو.

دا ښکاره ده چې: لازم نه دى هر يو حقيقت ددې لپاره چې باور پرې وکړې، د انسان لپاره د ليد او ننداري وړ وي. موږ ډېر ځيزونه، د مثال په توګه؛ نه لمس کوو يا نه وينو يا غږ يې نه اورو، خو په شتون يې پرته له شکه باور لرو. د بېلګې په توګه آيا برق [برېښنا] چا لېدلی خو ټول يقين لرو چې دا ډول ځواک شتون لري او مثلاً څراغونه پرې روښانه کيږي.
په دنيا کې ډېر ځيزونه همدا راز دي. انسان کولی شي د خرد او ايمان د سترګو په توسه داسې حقيقتونه مشاهده او ننداره کړي چې حواس د هغوی له پوهيدو او درک کولو عاجز دي. د لَتَرَوُنَّ «لامِ» او وروستی«نون» هر دواړه د ټينګار او تأکيد لپاره دي. يعني سل په سلو کې او پرته له اخوا ديخوا کولی شئ ووينئ.

په همدې ډول پر پيغمبر د وحی په اړه هم د «لېدلو» تعبير کاروي:
«أَفَتُمَارُونَهُ عَلَى مَا يَرَى، وَلَقَدْ رَآهُ نَزْلَةً أُخْرَى.»« آيا له ده سره د هاغه څه په اړه جګړه کوئ؟ چې دی يې [د زړه له سترګو سره] «ويني» [دا دده د ذهن جوړونه نه ده چې د شک او ترديد ځای ولري]. او يقيناً هغه [حقيقت يا جبرئيل] يې په يو بل ځل نزول [او کوزېدو] کې هم لېدلی دی.» [نجم۱۲(۵۳:۱۲)] يعنې آيا تاسو له هغه سره د هاغه څه په اړه چې دی يې ويني جګړه کوئ؟! دا معنا تر درې څلور ځلو پورې په دې سورت کې تکرار شوی دی. يا د «نجم» سورت کې وايي چې لَقَدْ رَأَى مِنْ آيَاتِ رَبِّهِ الْكُبْرَى.[نجم ۱۸(۵۳:۱۸)] په تحقيق، د خپل پالونکي څښتن ستر آيتونه يې ولېدل. خو د سر په سترګو نه، بلکې د زړه په سترګو.

پر دې بنا، دا چې د قيامت په ورځ به د انسانانو عملونه په ننداره کې راشي په قرآن کې تر ډېر ټينګار لاندې مسئلو څخه ده چې ډېر بحث او لا څېړلو ته اړتيا لري. نو هلته ټولې هغه کړنې اوعملونه چې انسانانو په دنيا کې د عمر له پيله تر پايه سرته رسولي دي،که کوچنی وي او که ستر،پخپله عمل يعنې نفس د عمل [نه کوم بل ځيز] مجسم شوی، د ننداري

لپاره حاضر شوی دی. وګړي د هغوی د کړنو او عملونو نندارې ته ځي او ورته وايي خپل عملونه دې وګوره، يعنې د عملونو د تجسم له مخې خپل عملونه مشاهده کړه.

---

۶ ـ «يوم الخروج» د قيامت له نومونو څخه دی، له ځمکې څخه په الهي ټولبلنه د آدمي خروج دی [روم ۲۵ (۳۰:۲۵) «..ثُمَّ إِذَا دَعَاكُمْ دَعْوَةً مِنَ الْأَرْضِ إِذَا أَنْتُمْ تَخْرُجُونَ.»]، دا خروج په ځانګړې او ناپېژندل شوې ډول دی [نوح ۱۸ (۷۱:۱۸)«ثُمَّ يُعِيدُكُمْ فِيهَا وَيُخْرِجُكُمْ إِخْرَاجًا»]، لکه پسرلي کې د خاورې له زړه د دانې د خروج په څېر [ق ۱۱ (۵۰:۱۱)«رِزْقًا لِلْعِبَادِ وَأَحْيَيْنَا بِهِ بَلْدَةً مَيْتًا كَذَلِكَ الْخُرُوجُ»]. دا خروج بېره ناک او ټوليز د ټاکلې هدف او موخې پر لور دی:

[معارج ۴۳ (۷۰:۴۳) «يَوْمَ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ سِرَاعًا كَأَنَّهُمْ إِلَى نُصُبٍ يُوفِضُونَ.»]. لکه د ملخانو ميليوني او بېره ناک حرکت د يوې مرموزې ندا پر لور [قمر۷ (۵۴:۷)« خُشَّعًا أَبْصَارُهُمْ يَخْرُجُونَ مِنَ الْأَجْدَاثِ كَأَنَّهُمْ جَرَادٌ مُنْتَشِرٌ»]،او يا په آسمان کې خپاره شوې پتنګان [قارعه۴ (۱۰۱:۴)«يَوْمَ يَكُونُ النَّاسُ كَالْفَرَاشِ الْمَبْثُوثِ»].

دست می زد چون رهيد از دست مرگ سبز و رقصان در هوا چون شاخ و برگ
شاخ و برگ از حبس خاک آزاد شد برگ بر آورد و حريف باد شد
برگ ها چون شاخ را اشکافتند تا به بالای درخت اشتافتند
[مثنوی معنوي لومړی دفتر له ۱۳۴۹ بيتونو څخه وروسته]

۷ ـ «يُرَوْا» مجهول فعل دی؛ چې هغوی ته وروښودل شي، نه دا چې پخپله ننداري پسې لاړ شي، آخرت د اختيار عالم نه دی، د عملونو او کړنو د تحقق، لواړېدو او ځرګندېدو ورځ ده، نه د هغوی آثار او اجر او جزا، بلکې پخپله عمل چې تلپاتې پديده او ښکارنده ده.

فعل تو کان زايد از جان و تنت همچو فرزندی بگيرد دامنت
[مثنوی معنوی شپږم دفتر ۴۲۳ بيت]

د انسان عمل او کړنې په هستۍ کې انځورېږي او ببرته ګرځول کيږي ګواکې له مخې يې نسخه اخيستل کيږي [جاثيه ۲۹ (۴۵:۲۹) ـ « هَذَا كِتَابُنَا يَنْطِقُ عَلَيْكُمْ بِالْحَقِّ إِنَّا كُنَّا نَسْتَنْسِخُ مَا كُنْتُمْ تَعْمَلُونَ »]. د ق سورت ۱۶ (۵۰:۱۶) آيت تر ۲۲ آيت، د توصيف پر بنسټ دوه پرښتې يا اخيستونکې عاملونه پر انسان ګومارل شوي دي چې د هغه نېکې او بدې کړنې له جملې هغه لفظونه چې په ژبه راوړي، په بېره ثبت او ضبط کوي او د سرليک پر لور يې لېږونکې او د چلن شاهدان يې دي. منکرانو ته په هاغه ورځ ويل کيږي ته له دې چارې غافل وې خو نن ورځ ستا سترګې تېزې او بينا دي.

فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ﴿٧﴾

نو هر چا چې د يوې ذرې هومره ښېګڼه کړې وي هغه ويني. [=مومي]، (٨)

وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴿٨﴾

او هر چا چې د يوې ذرې هومره بدي کړې وي (٩) هغه[په هغې ورځ] ويني.

| فَمَنْ | يَعْمَلْ | مِثْقَالَ | ذَرَّةٍ | خَيْرًا | يَرَهُ |
|---|---|---|---|---|---|
| نو هر څوک چې | وکړي | برابر ـ هومره | يوه ذره | ښېګڼه | هغه ويني |

| وَمَنْ | يَعْمَلْ | مِثْقَالَ | ذَرَّةٍ | شَرًّا | يَرَهُ |
|---|---|---|---|---|---|
| او هر څوک چې | وکړي | برابر ـ هومره | يوه ذره | بدي | هغه ويني |

فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ.«ثقل» او «مثقال» يعني دروندوالی. د مثقال کلمه د هاغې وسيلي په معنا ده چې د هغې په توسه وزنونه سنجوي. وايي که د چا کړنې د «ذرې» په دروندوالي، يعني د «ذرې» په کچه يا وزن يا هومره وي، هغه به ووينې.«ذره» ترټولو کوچنی څيز چې په هاغه وخت کې يې کولی شو تصور کړي، يو څيز لکه د آوري، غوښت يا د خشخاش دانه، يا په اوسنۍ اصطلاح اتم يا الکترون يا تر دوی هم کوچنی. يَرَهُ يعني کړنې يې ويني، خپله عمل يې ويني. نو، که د ذرې په کچه د خير کوم عمل يې کړی وي، هغه به ووينې. وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ. او که د «ذرې» هومره شر او بدي يې کړې وي، هغه هم ويني. نو، دا نه ده چې د هغه يوازې ډېر ښه يا ډېر بد کارونه هغه ته ورښودل شي؛ د هغه ډېر واړه حرکتونه او چلن او هر څه چې يې سر ته رسولي هغه به ټول هغه ته په مجسمه توګه ور وښودل شي.

د يادولو وړ ده چې عربانو په خپل فرهنګ کې له ذرې کوچنی کوم څيز نه درلود او نه پرې پوهېدل او الله تعالی هم د هغوی په عرف خبره کوي او ذره هماغه څيزونه دي چې په صافه هوا کې هاغه مهال چې د لمر وړانګې له يوه سوري وځلېږي او کوم څيزونه له دوړو او لړو چې د ذرو په نامه په هوا کې څرګندېږي موخه يې همدا واړه توکي دي. نو پر دې بنا د آيت مقصد دادی چې د خير او شر عمل که په هره کچه کوچنی هم وي په قيامت کې حساب لري. روايت کوي چې د بعثت په پيل کې، يو سارا مبشتی عربي، چې اورېدلي يې ول په مکه کې يو چا د پيغمبرۍ ادعا کړې چې د خدای په اړه نوې او تازه خبرې کوي،

پيغمبر ته راغې او وايي چې اوريدلي مې دي د پيغمبرۍ ادعا لرې، ښه نو ستا خدای تاته څه ويلي دي؟ عَلَّمَنِی مِمّا عَلَّمَکَ اللّهُ :«له هاغه څه چې الله تاته در زده کړي ماته يې ښوونه وکړه» او پيغمبر همدا دوه آيتونه ورته لولي:

فَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ. وَمَن يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ. عرب پوښتنه کوي چې مثقال ذره يعنې د يوې ذرې په کچه؟ پيغمبر ځواب ورکوي هو، حتا د يوې ذرې په کچه. بيا ځلې پوښتنه کوي آيا تر دې کچې پورې له خپل عمله وينې؟ پغمبر وايي هو. سارا مېشتی له پيغمبره ددې ځواب له اورېدلو وروسته د پيغمبر له نزده ځي. او پيغمبر وايي: «فَقـهَ الرَّجُلُ» دا سړی فقيه شو. «فَقـهَ» يعنې د مطلب تر پايه پوه شو؛

ښه، که دا مسئله واقعاً تر دې بريده مهمه ده او تر دې کچې حساب او کتاب په عالم کې شته چې انسان حتا د ذرې په کچې خپل ښه او بد عملونه ويني، ښه نو، نور خو تکليف روښانه دی؛ نور نو لازم نه دي موږ د کوم بل څيز نه خبر کړي. يعنې مقصد دادی چې د خير او يا د شر عمل که په هره کچه کوچنی هم وي د قيامت په ورځ حساب او کتاب لري. نو هاغه کسان چې خپل ځان او خلک له دې الهي کتابه بې خبره ساتي او جعلي، ناسم او بې لاري اخبار وايي او له ځانه نوي خبرې او بدعتونه رواجوي او د توحيد پر خلاف شفاعتونه او بې لارې تورې بايد توبه وکاږي او توحيد ته ځان برابر کړي.

خو د هېښتيا خبره داده چې له دې سره سره ځينې کسان هم شته او ول چې له يو عمره دا آيتونه لولي او سل سل ځلې هم د قرآن دورې کوي، خو بس يوازې يو لړ معلومات لاسته راوړي. همدا او بس. او ددې پر عکس، داسې کسان هم شته او ول چې د يو، دوه آيتونو لوستلو ورته کفايت کړی او «فقه» يې موندلې او هدايت شوي دي. که انسان په هاغو آيتونو کې چې د بعثت په لومړنيو کلونو کې نازل شوي دي تأمل وکړي چې څه ډول يې د ټولو تکليف روښانه کړی دی، حقيقتاً به ټکان وخوري.

نو په هاغه ورځ کې چې د عملونو د پرتلې او سنجونې دقت او ځيرتيا او د هغـوی نـنداره دا ډول ده چې انسان خپل د خير يا شَر کوچنی ترين عمل وينـي: فَمَـنْ يَعْمَـلْ مِثْقَـالَ ذَرَّةٍ خَيْـرًا يَرَهُ ﴿﴾ وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴿﴾ هغه اثقال او درانه توکي چې ځمکه يې د قيامـت پـه ډارووونکي او تونده ګړندۍ زلزله کې له خپله ځانه راوباسي [وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا] هـر څه چې وي، داسې توکې رانغاړي چې په عادي حالت کې له ظاهري سترګو تل په پرله پسې

توکه پټ دي، د انسانانو د عملونو دروندوالی هم چې پخپله هغه ته او نورو ته ناڅرګند ول، په یوم الحساب کې د محاسبې تلې ته اچول کیږي. لکه څنګه چې د ځمکې خارجي پوټکی (د ځمکې د قطر په نسبت) له نري والي او تنکي والي سره سره، د محافظتي کلکې پوستې په توګه، میلیاردونه کلونه د ځمکې دننی ویلي قشر د تعادل په حال کې مهاراوه، ستارالعیوب پالونکي څښتن هم، د خپل حلم د پردې په توسه د انسانانو د ماهیت له افشا کیدني او د هغوی د عملونو له لواړېدني او ځرګندېدني څخه، تر هاغې ورځې پورې چې «یوم تبلی السرائر» نومول شوې، مخنیوی کوي. په هاغه ورځ کې چې د حواسو پردې او حجابونه اخوا کیږي، انسان له هاغې زلزلې سره چې د هغه د وجود ذرات له ویرې او ډار څخه په حرکت راوړي، د خپلو عملونو اثقال خارجوي.

په قرآن کې د انسانانو د عملونو لپاره دقیقاً وزن او دروندوالی چې د لېږد وړ وي په واقعي یا مجازي بڼه قایل شوی دی: «وَلَيَحْمِلُنَّ أَثْقَالَهُمْ وَأَثْقَالًا مَعَ أَثْقَالِهِمْ...» «او هرومرو به د خپلو [ګناهونو] دروند پیټی او نور پیټي پر خپلو پیټو سربېره پر اوږو لېږدوي...» [عنکبوت۱۳ (۲۹:۱۳)] ــ «...وَإِنْ تَدْعُ مُثْقَلَةٌ إِلَى حِمْلِهَا لَا يُحْمَلْ مِنْهُ شَيْءٌ وَلَوْ كَانَ ذَا قُرْبَى...»«...او که [د ګناه د زیاتوالي په وجه] د دروند پیټي والا، د خپل پیټي اوچتولو ته [بل څوک] راوبولي، د ده له پیټي به هیڅ څیز اوچت نه کړي، که څه هم خپلوان یې وي،...»[فاطر ۱۸ (۳۵:۱۸)].

په هاغه ورځ به ارزونه او سنجش په ځیر او ریښتیني توګه سر ته رسیږي او د هر چا وزن چې دروند وي هماغه به سمسور او بریالی وي: «وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ»«او پر هغه ورځ به د [کړنو] ارزونه په حقه [او رښتیني توګه [=دقیق او په انصاف] وي، نو د هغه چا چې [د کړنو] تلې درنې [=ارزښتمنې] وي، نو هماغوی بریالي[او زرغون] دي.» [اعراف۸(۷:۸)] او [مؤمنون۱۰۲ (۲۳:۱۰۲)].

الله تعالی وایي: د هر چا د خیر تله چې درنه وي هغه به په رضایت بښونکي ژوند کې پاتې شي. « فَأَمَّا مَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ، فَهُوَ فِي عِيشَةٍ رَاضِيَةٍ » «نو د هغه چا چې د کړنو پله [=دارزونې تله] درنه وي، نو دی به په ښه [او رضایت بښونکي] ژوند کې وي.» [قارعه۶(۱۰۱:۶) او ۷]. د هغې ورځې حساب دومره په ځیر او دقیق دی چې که د آورې یا غوښت د دانې په کچه د چا د عمل دروندوالي ته تللی وي په شمېر کې راځي او ګڼل

کيږي، «...وَإِنْ كَانَ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ أَتَيْنَا بِهَا وَكَفَى بِنَا حَاسِبِينَ»«...او که [کړنې يې] د اوري د داني هومره وي موږ هغه [دده په حساب کې] راوړو، [د بندګانو حساب ته د رسېدلو لپاره] زموږ حسابګروالی بس دی.» [انبياء ۴۷ (۲۱:۴۷)]، که څه هم د ډبرې په زړه کې وي يا د آسمانونو په لوړتياو کې يا د ځمکې په ژورتياو کې وي. « يَا بُنَيَّ إِنَّهَا إِنْ تَكُ مِثْقَالَ حَبَّةٍ مِنْ خَرْدَلٍ فَتَكُنْ فِي صَخْرَةٍ أَوْ فِي السَّمَاوَاتِ أَوْ فِي الْأَرْضِ يَأْتِ بِهَا اللَّهُ...» «اى زما زويه، که [د انسان نيکي يا بدې کړنې، حتا] د اوري [يا غوښتو] د داني په درونډوالي وي، که په کومه ډبره کې وي او يا په آسمانونو کې [پټ] وي، او يا په ځمکه کې وي، الله به يې [په حساب کې] راوړي...» [لقمان ۱۶ (۳۱:۱۶)]، ځکه چې په هاغه ورځ هيڅ څيز له خداى تعالى څخه پټ نه دى «..وَمَا يَعْزُبُ عَنْ رَبِّكَ مِنْ مِثْقَالِ ذَرَّةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ...»«...او نه ستا له پالونکي ربه د يوه بخري هومره څيز، نه په ځمکه او نه په آسمانونو کې پټ پاتېږي...» [يونس ۶۱ (۱۰:۶۱)] او هغه هم په دې ډول چې د ذرې او بخري په کچه له چا سره ستم نه کيږي. «إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ...»«بې له شکه الله د يوې ذرې هومره [هم پر چا] ظلم نه کوي...» [نساء۴۰ (۴:۴۰)].

په دې تر تيب آرامه او هوسا ځمکه چې د بنيادم ګهواره او زانګو ګڼل کېده « أَلَمْ نَجْعَلِ الْأَرْضَ مِهَادًا، وَالْجِبَالَ أَوْتَادًا.»«آيا موږ ځمکه [د ژوند لپاره] د بستر په بڼه [=هوساينځى يا زانګو] نه ګرځوو؟ او غرونه مو [لکه] مېخونه ؟» [النباء ۶ (۷۸:۶)]. او پالونکي څښتن هغه د انسان لپاره د فرش او د پراخ ډګر په توګه ګومارلې، «الَّذِي جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ فِرَاشًا وَالسَّمَاءَ بِنَاءً..»« هغه [رب] چې ځمکه يې تاسو ته [د هوساينې لپاره، لکه] فرش او آسمان [=د ځمکې تشيال]يې [له آسماني کتلو او موجونو څخه د امنيت لپاره] چت کړ..» [البقرة ۲۲ (۲:۲۲)]. «وَاللَّهُ جَعَلَ لَكُمُ الْأَرْضَ بِسَاطًا.»« او الله ځمکه ستاسو [د ژوند لپاره غوړولى فرش ګرځولى»[نوح ۱۹ (۷۱:۱۹)].

نابېره لکه د يوې درنې شوې او رسېدلې مېوې په څېر چې «بغتة» [نابېره] له ونې سقوط کوي، د داسې ډارونکو او سهمناکو بدلونونو سره دوچارېږي او د قيامت مهال او ساعت رسيږي «...ثَقُلَتْ فِي السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ لَا تَأْتِيكُمْ إِلَّا بَغْتَةً..» «..[دا ښکارنده] په آسمانونو او ځمکه کې درونډوالى کوي [لکه د هاغې مېوې په څېر چې پر ونه پخه شوې وي او د غورځېدو او سقوط مهال يې رسېدلى وي] پرته له ناڅاپه توګه پر تاسو نه راځي...» [الاعراف ۱۸۷ (۷:۱۸۷)].

تر دې ځايه د «زلزله» سورت په اړه بحث او تشريح پای ته ورسېده. ددې سورت ځای پر ځای کېدل د «قارعه» او «عاديات» له سورتونو څخه مخکې، چې هر دواړه سورتونه د جهان په راتلونکي وضع او د هغه د سترو پېښو او اووښتونو په اړه برېښنده دلالت لري، څرګندوي چې انسان څومره له خپل راتلونکي څخه غافل دی او څومره په اخروي چارو کې ورو او يخ دی، او په عوض کې يې (لکه څنګه چې د «عاديات» په سورت کې به يې ووينو) د دنيوي ګټو او منافعو لپاره په تاخت او د ورځې له پيل سره د لوټمار او د مادي ګټو د لاسته لپاره په بېړه رهي کيږي، بې خبره له دې چې سبا به د قيامت په ورځ ورسره مخامخ کيږي. ددې مسئلو په اړه بايد پرې  پوره بحث او څېړنه وشي.

صدق الله العليّ العظيم.

---

۸ ـ د هر يو انسان درونډوالی په ايمان او صالح عمل کې د هغه په معنوي وزن پورې تړاو لري. د قرآن په تعبير، د قيامت په ورځ کې د قسط انډولونه [موازين قسط] رامنځته کيږي او د اعمالو په محاسبه کې د آوري د دانې په کچه هم څه څيز نالېدلی نه نبول کيږي[انبياء ۴۷ (۲۱:۴۷)].

د اعمالو د سپکوالي او درونډوالي موضوع د اعراف سورت په ۸ (۷:۸) او ۹ آيتونو او د مؤمنون سورت په ۱۰۲ (۲۳:۱۰۲) او ۱۰۳ آيتونو کې هم راغلي دي.

| | |
|---|---|
| متهم کن نفس خود را ای فتی | متهم کم کن جزای عدل را |
| توبه کن مردانه سر آور به ره | كه فَمَن يَعْمَلْ بِمِثْقَالٍ يَرَهُ |
| در فُسونِ نفس کم شو غَرّه ای | کافتاب حق نپوشد ذرّه ای |
| هست آن ذرات جسمی ای مفید | پیش آن خورشید جسمانی پدید |
| هست ذرّات خواطر و افکار | پیش خورشید حقایق آشکار |

[مثنوی معنوی شپږم دفتر له ۴۳۳ بيتونو وروسته]

۹ ـ يو د بل په وړاندې د خير او شرّ ايښوول د ايمان او کفر، يا حُسن او سوء پر ځای د هاغه ګټې او ضرر څرګندوونکی دی چې آدمي پر نورو وارد کړی دی [والله اعلم].

| | |
|---|---|
| ای دریده آستین یوسفان | گر بدّرد گرگ آن از خویش دان |
| زانکه می بافی همه ساله بپوش | زانکه می کاری همه ساله بنوش |
| فعل تست این غصه های دم به دم | این بود معنی قد جف القلم |

[مثنوی معنوی پنځم دفتر له ۳۱۸۵ بيت څخه وروسته]

## په قيامت کې د ځمکې وضعيت:

ددې مبحث او تشريح په پای کې به دا ښه وي چې د ځمکې او د هغې د پاياني زلزلې د مطالبو او موضوع ګانو پورې اړوند د پاملرنې وړ ځيرنه وکړو، او هاغه آيتونه چې د قيامت په ورځ زموږ د خاورينې ځمکې وضعيت انځوروي، او د داسې يو لړ آيتونو د مجموعې په سېورې کې پر داسې يوې صحنې يو ټوليز ليد ولرو. دا جوته ده چې ددې آيتونو ژوره پېژندنه د ستورپېژندنې او نړۍپېژندنې له علمه کافي او بشپړې آګاهۍ ته ضرورت لري چې د علومو د متخصصينو کار دی خو له دې سره سره ددې آيتونو لړليک او ډلبندي کولی شي د پوهې او څېړنې د اهل لپاره د سريزې په توګه د نور غور او پراخو څېړنو لپاره ګټور دي. په لاندې توګه د پاملرنې وړ موردونو يادونه کوو:

الف ـ هغه آيتونه چې د ځمکې له سختې لړزې څخه په قيامت کې خبر ورکوي:
يَا أَيُّهَا النَّاسُ اتَّقُوا رَبَّكُمْ إِنَّ زَلْزَلَةَ السَّاعَةِ شَيْءٌ عَظِيمٌ [الحج ١ (٢٢:١)].
إِذَا زُلْزِلَتِ الْأَرْضُ زِلْزَالَهَا وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا [الزلزله ١ (٩٩:١) او ٢].
إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا، وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا، فَكَانَتْ هَبَاءً مُنْبَثًّا.[الواقعه ۴ (٥٦:۴) او ٥، ۶].
يَوْمَ تَرْجُفُ الرَّاجِفَةُ، تَتْبَعُهَا الرَّادِفَةُ، قُلُوبٌ يَوْمَئِذٍ وَاجِفَةٌ، أَبْصَارُهَا خَاشِعَةٌ. [النازعات۶ (٧٩:۶) او ٧، ٨، ٩].
يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَهِيلًا [المزمل ١۴ (٧٣:١۴)].
په پورتنيو آيتونو کې د ځمکې لړزېدنه د زلزلې او رجف له کليمو سره توضيح شوې ده چې دا دوه کليمې زلزلې ته ويل کېږي.

ب ـ د ځمکې کنل او ټکول کېدل:
كَلَّا إِذَا دُكَّتِ الْأَرْضُ دَكًّا دَكًّا [الفجر ٢١ (٨٩:٢١)].
وَحُمِلَتِ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ فَدُكَّتَا دَكَّةً وَاحِدَةً [الحاقه ١۴ (۶٩:١۴)].

ج ـ د غرونو پوډر او ښيندل کېدل:
يَوْمَ تَرْجُفُ الْأَرْضُ وَالْجِبَالُ وَكَانَتِ الْجِبَالُ كَثِيبًا مَهِيلًا [المزمل ١۴ (٧٣:١۴)]
إِذَا رُجَّتِ الْأَرْضُ رَجًّا، وَبُسَّتِ الْجِبَالُ بَسًّا، فَكَانَتْ هَبَاءً مُنْبَثًّا.[الواقعه ۴ (٥٦:۴) او ٥، ۶].
الْقَارِعَةُ، مَا الْقَارِعَةُ... وَتَكُونُ الْجِبَالُ كَالْعِهْنِ الْمَنْفُوشِ.[القارعه ١ (١٠١:١) او ٢..او ٥].

د ـ د ځمکې بدلون (د ځمکې او آسمان د فعلي ماهيت کيفي تغير):
يَوْمَ تُبَدَّلُ الْأَرْضُ غَيْرَ الْأَرْضِ وَالسَّمَاوَاتُ وَبَرَزُوا لِلَّهِ الْوَاحِدِ الْقَهَّارِ[ابراهيم ۴۸ (۱۴:۴۸)].

هـ ـ د ځمکې د سطحې بشپړ صاف او هواريدل:
وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْجِبَالِ فَقُلْ يَنْسِفُهَا رَبِّي نَسْفًا، فَيَذَرُهَا قَاعًا صَفْصَفًا، لَا تَرَى فِيهَا عِوَجًا وَلَا أَمْتًا. [طه ۱۰۵ (۲۰:۱۰۵) او ۱۰۶، ۱۰۷].
وَيَوْمَ نُسَيِّرُ الْجِبَالَ وَتَرَى الْأَرْضَ بَارِزَةً ... [الكهف ۴۷ (۱۸:۴۷)].

و ـ د ځمکې د حجم منبسط کېدل او غځېدل:
وَإِذَا الْأَرْضُ مُدَّتْ، وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ .[الانشقاق ۳ (۸۴:۳) او ۴]
ز ـ د ځمکې د دننيو موادو راوتل او تشېدل يې:
...وَأَلْقَتْ مَا فِيهَا وَتَخَلَّتْ. [الانشقاق ۳ (۸۴:۳)]
...وَأَخْرَجَتِ الْأَرْضُ أَثْقَالَهَا [الزلزله ۲ (۹۹ :۲)]

ح ـ د پالونکي سختن پر نور د ځمکې نوراني کېدل:
وَأَشْرَقَتِ الْأَرْضُ بِنُورِ رَبِّهَا وَوُضِعَ الْكِتَابُ وَ ... [الزمر ۶۹ (۳۹:۶۹)]

---

**يادونه:** ددې تشريح د ليکلو پر مهال لاندينيو سرچينو ته هم مراجعه شوې ده:

۱ ـ نظم قرآن ـ د عبدالعلي بازرګان ليکنه
۲ ـ آشنايي با قرآن ـ د مرتضى مطهري ليکنه
۳ ـ في ظلال القرآن ـ د سيد قطب ليکنه
۴ ـ تفهيم القرآن ـ د سيد ابوالاعلى مودودي ليکنه
۵ ـ قرآن حکيم [ترجمه و توضيحات فارسي] ـ عبدالعلي بازرګان
۶ ـ الميزان في تفسيرالقرآن ـ د سيد محمدحسين طباطبائي ليکنه
۷ ـ کابلي تفسير [قرآن کريم ترجمه او تفسير ـ مولانا محمود الحسن ديوبندي
او علامه شبير احمد عثماني ] پښتو کوونکي : د عالمانو يوه ډله
۸ ـ پرتوى از قرآن ـ د سيد محمود طالقاني ليکنه
۹ ـ تفسير نمونه ـ د آيت الله مکارم شيرازي او ورسره د علماو د پلاوي ليکنه
۱۰ ـ تفسير نور ـ د مصطفى خرمدل ليکنه
۱۱ ـ تابشي از قرآن ـ د سيد ابوالفضل ابن الرضا برقعي ليکنه

۱۲ ـ تفسير باران ـ د دکتور مهدي خُدّاميان آراني ليکنه
۱۲ ـ ترجمه تفسير طبري ـ به اهتمام و تصحيح حبيب يغمائی
۱۳ ـ تفسير ابن کثير [حافظ عمادالدين ابوالفدا اسمعيل بن عمر ابن کثير الدمشقي]
اردو ته ژباړه : مولا محمد جوناګړهي
۱۴ ـ معارف القرآن ـ د مولانا مفتي محمد شفيع ليکنه
۱۵ ـ تفسير مصباحين (اردو) ترجمه و شرح تفسير جلالين ـ ليکونکي : جلال الدين محلي او جلال الدين سيوطی ـ اردو ته ژباړه او شرح: محمد لياقت علي رضوي
۱۶ ـ تفسير کمالين د جلالين تفسير اردو شرح د : مولانا محمد نعيم ديوبندی
۱۷ ـ د قرآن عظيم الشان پښتو ژباړه ـ مولوي قيام الدين کشاف
۱۸ ـ عزيزالتفاسير ـ د قرآن کريم پښتو ترجمه او تفسير ـ مولوي سلطان عزيز (عزيز)
۱۹ ـ صفوةالتفاسير ـ د محمدعلي الصابوني ليکنه ـ ژباړونکی: مولوي شمس الله کمال زاده
۲۰ ـ د قرآن پلوشې ـ د ګلب الدين حکمتيار ليکنه
۲۱ ـ تفسير دېوبندي ـ د مولوي عبدالحنان ليکنه
۲۲ ـ حکمة القرآن ـ د مولوي امين الله پېښاوری ليکنه
۲۳ ـ تفسير ايوبي حنفي ـ د مولانا محمد عبيدالله ايوبي ليکنه
۲۴ ـ تفسير احسن الکلام ـ د مولوي عبدالسلام رستمي ليکنه
۲۵ ـ قرآن کريم په پښتو ـ د اجرالدين اقبال ژباړه
۲۶ـ شرحي بر سوره های قرآن ـ عبدالعلي بازرګان ـ د عبدالعلي بازرګان وېب پاڼه [bazargan.com]
۲۷ ـ تفسير روح القرآن ـ مؤلف ډاکتر مولانا محمد اسلم صديقي.